ورځپاڼه
هیواد

# د پکتیا قومي مشرانو د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره خپلې غوښتنې شریکې کړې

د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال وړمه ورځ د پکتیا ولایت له یو شمېر قومي مخورو او مشرانو سره په سپېدارمانۍ کې ولیدل.په دې لیدنه کې د پکتیا ولایت مشرانو او سپین ږیرو د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال څخه مننه وکړه چې تل یې قومي مشرانو ته وخت ورکړی او د ولس په وړاندې یې دروازې پرانیستې دي. دوی وویل: د اسلامي امارت په راتګ سره د قومونو ګڼې ستونزې هوارې شوي او په دې برخه کې یې د سیاسي معاونیت هڅې وستایلې. یادو مشرانو د پکتیا ولایت د ولسونو یو لړ ستونزې او وړاندیزونه هم د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال سره شریک کړل.وروسته د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر له یادو مشرانو او مخورو څخه د مننې ترڅنګ وویل: د اسلامي نظام په راتګ او ټینګښت کې د لویې پکتیا خلکو درنې قرباني ورکړې او ډول ډول سختۍ یې زغملي دي. نوموړي راغلو مشرانو ته په خطاب کې وویل: سیاسي معاونیت د ټولو قومونو په چوپړ کې دی او شپه او ورځ د همدې موخې لپاره هڅې کوي. د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال د خپلو خبرو په پای کې څرګنده کړه چې د اړوندو ادارو له لوري به د پکتیا د ولسونو ستونزو او وړاندیزونو ته پر وخت رسیدګي وشي.

مؤسس: عبدالرووف بینوا
د تاسیس کال۱۳۲۸ لمریز
دوشنبه د شوال المکرم۲۵ مه ۱٤٤٤ق کال | دغویي۲۵مه ۱۴۰۲ ل کال | دمې۱۵ مه ۲۰۲۳م کال| خصوصي ګڼه۳۹مه| پرله‌پسې ګڼه۱۲۹ مه ،اتمه‌دوره

# د ملابرادر اخوند او ملي سوداګرو په مالي لګښت په ترینکوټ کې لوی جومات جوړېږي

د ارزګان په مرکز ترینکوټ کې د ریاست الوزراء د اقتصادي اوقافو رئیس مولوي عطاالله خادم وایي، دا پروژه د رئیس د مرکز ترینکوټ ښار اړوند په خلورمه ناحیه کې ولسونو ۱۱



مرستیال ملابرادر اخند او ملي سوداګرو په مالي لګښت د یوې لویې عیدګاه رغنیزې چارې پیل شوې.د ارزګان د ارشاد حج او الوزرا د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په هڅو او د یو شمېر ملي سوداګرو په مالي مرسته پلې کېږي.ده زیاته کړه: جریبه ځمکه د دغه جومات لپاره وقف کړې.د سرچینې د معلوماتو له مخې، د یاد جومات چارې به په ۱۸ میاشتو کې بشپړې شي. ((دا جومات په یو وخت د ۷ زره لمونځ کوونکو ظرفیت لري؛ خو که احاطه یې هم ورسره حساب کړو، نو په یو وخت بیا ۳۰ زره لمونځ کوونکي په کې ځایېږي، په جومات کې د ملا امام لپاره د اوسېدو کور او نورې آسانتیاوې هم شته.))د دغه ولایت والي مولوي علي جان احمد وایي، دا جومات د ولایت په کچه جوړېږي ،چې د خلکو یو شمېر ستونزې به ورسره حل شي.(( دغه جومات د ولایت په سطحه له لویو جوماتونو څخه ګڼل کېږي، چې ډېرې آسانتیاوې په کې موجودې دي.))عام خلک هم د جماعت جوړېدو هرکلي کوي او زیاتوي ،چې له دې مخکې د عبادت ترسره کولو لپاره مناسب ځای نه و.د ارزګان...۵مخ

# په ۹ ولایتونو کې ۲۱ ۸۳ زره جریبه ځمکه د کوکنارو له کښته پاکه شوه

د کورنیو چارو وزارت پرون ویلي، چې د کوکنارو کښتونو د اړولو او له نشه‌یي توکو سره د مبارزې پولیسو په ۹ ولایتونو کې ۲۱۸۳ جریبه د کوکنارو کښتونه له منځه وړي دي.د دغه وزارت د څرګندونو له مخې، ۷۷۷ جریبه د فاریاب ولایت په پښتون کوټ، بلچراغ، الماړ، کوهستان او خیبر ولسوالیو کې، ۴۰۰ جریبه په پکتیا، ۲۹۲جریبه په ننګرهار، ۱۲۷ جریبه په تخار، ۳۸ جریبه په کونړ، ۱۳ جریبه په بغلان، ۱۱ جریبه په بلخ او ۵ جریبه ځمکه د غور ولایت په پسابند ولسوالۍ کې له کوکنارو پاکه شوې ده.په کابل ولایت کې هم د کوکنارو کروندې ویجاړې شوې دي.وړمه ورځ د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت ویلي و، چې د نشه‌یي توکو په وړاندې د مبارزې پولیسو د هیواد په شپږو ولایتونو کې ۸۰۰



جریبه کوکنار له منځه وړي دي.د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي، په هیواد کې د نشه‌یي توکو د له منځه وړلو لپاره د نشه‌یي توکو د کښت او قاچاق پر ضد جدي مبارزه روانه ده.مجاهد ټینګار کړی، چې د نشه‌یي توکو د قاچاق د مخنیوي لپاره هڅې روانې دي او د ۲۰۲۱ م کال په اګست میاشت کې واک ته له بیا رسېدو وروسته اسلامي امارت د نشه‌یي توکو یو زیات شمېر قاچاق وړونکي نیولي او بندیان دي.نوموړي دغه راز ګاونډیو او د سیمې هیوادونو ته داډ ورکړ، چې له افغانستان څخه دې د نشه‌یي توکو د قاچاق په اړه اندېښنه نه‌لري، بلکې له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې دې له دولت او خلکو سره همکاري وکړي او د کوکنارو د بدیل کښت په موندلو کې دې مرسته وکړي.

# په نورستان کې د نږدې ۲۰۰ پروژو چارې پیل شوې

په نورستان کې د پنځه میلیونه شوې. د یاد ولایت له مقام څخه



امریکایي ډالرو په ارزښت د شاوخوا ۲۰۰ پروژو چارې پیل په خپره شوي خبرپاڼه کې راغلي ، چې دا پروژې د کلیو د پراختیا ریاست تر چتر لاندې د نړیوال او ملي بانک په مالي ملاتړ پلې کېږي.د سرچینې د معلوماتو له مخې، په دغو پروژو کې کانالونه ، سړکونه او استنادي دېوالونه شامل دي چې شمېر یې ۲۰۰ ته رسېږي.د دغو پروژو چارې به شاوخوا یوه میاشت دوام وکړي، چې په کې زرګونه کسانو ته د کار زمینه هم برابرېږي.د یادونې وړده ،چې دا پروژې په واما، دواب، نورګرام او برګمتال ولسوالیو کې پلې کېږي.

## د ۴۰ میلیونو ډالرو بشري مرستې بله کڅوړه هم کابل ته را ورسېده

د افغانستان بانک کابل ته د ۴۰ میلیونو امریکایي ډالرو بشري مرستو د رارسېدو خبر ورکړی دی.سرچینې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې افغانستان ته د بشري مرستو په لړ کې، ۴۰ میلیونه امریکایي ډالره نغدي مرسته کابل ته راورسېده.د افغانستان بانک، د نړیوالې ټولنې د بشري مرستو قدرداني او د زیاتو همکاریو غوښتنه یې کړې ده. په همدې حال کې، دغه بانک هیواد ته له قانوني او اصولي لارو د اسعارو د واردېدو هرکلی کړی او د نړیوالې ټولنې د بشري مرستو د منني ترڅنګ یې غوښتنه کړې ده، چې په نورو مالي او بانکي برخو کې هم له افغانستان بانک سره غوره بانکي اړیکې وپالي.

# برگزاری نمایشگاه کتاب در ولایت فراه

مسئولین در ریاست اطلاعات و فرهنگ ولایت فراه از برگزاری



نمایشگاه کتاب به مناسبت هفته کتابخوانی در این ولایت خبر می دهند.
در مراسم افتتاحیه این نمایشگاه که جمعی از استادان و دانشجویان این ولایت حضور داشتند، مولوی عبدالحی سباوون، رئیس اطلاعات و فرهنگ فراه در رابطه با ارزش و اهمیت کتاب گفت:« با کتابخوانی می‌توانیم به قله های رفیع نایل شویم و خود را در رقابت با کشورهای در حال توسعه قرار دهیم.»
وی از تمامی دانشجویان و دانش آموزان خواست تا در خانه‌های شان در حد ممکن کتابخانه بسازند.
به باور رئیس اطلاعات و فرهنگ فراه، رفاه اجتماعی به هر قیمتی که باشد، رابطه مستقیم با مطالعه دارد.از سوی دیگر، استاد شریف الله ملال، یکتن از...ص۵

# په خوست کې معلولینو ته لازیاتې آسانتیاوې برابرېږي

په خوست کې د جنوب ختیځ زون په کچه د اورتوپیدي او په هدف ویلچر بایسکل ورکړل شول.د خوست د اورتوپیدي او



فیزیوترافۍ مرکز له لوري شاوخوا ۲۷ معلولیت لرونکو وګړو ته د تګ راتګ او اسانتیا فیزیوترافۍ مرکز مسئول ډاکټر موسی جان بشېر زوی وویل: دغه ویلچر یې د معلولینو د ورځني ژوند د ښه کېدو لپاره ورکړي، چې د تګ راتګ پر مهال یې شته ستونزې ورسره کمې شي.د نوموړي په خبره: په راتلونکي کې به د معلولینو د ښه ژوند لپاره نورې لازمي آسانتیاوې او غوره روغتیایي خدمتونه برابرکړي:(( د دوی لپاره قالب مصنوعي پښه استفاده کېدای نه شوه، په هغې کې دوی خپل ورځنی مشکل نه شوای حلولی، دغو خویندو ورونو ته مو ۲۷ ویلچرونه توزیع کړل او هغه ماشومان ،چې د کېناستلو او تللو وړ نه وو، د هغوی لپاره مو...۵مخ

# تورخم ګمرک کې بهر ته د قیمتي ډبرو د قاچاق مخه نیول شوې

د مالیې ورازت ویلي، چې د تورخم ګمرک د صادراتو برخې منسوبینو وړمه ورځ په یوه بار وړونکي موټر کې د ځای پر ځای شویو ګران بیه ډبرو د قاچق مخه نیولې ده. ویل کېږي، چې په دې ډبرو کې خلور اعشاریه اتلس



کیلو ګرامه بیروج، نهه اویا اعشاریه پنځوس کیلو ګرامه لیتیم، پنځه اعشاریه دیرش کیلو ګرامه ګل سولر او ۹۳۰ کیلو ګرامه نفرایت ډبرې دي، چې پاکستان ته لېږدول کېدلې.

## په ۲۳ولایتونو کې د پولیو واکسین کمپاین پیلېږي

د عامې روغتیا وزارت نن (( دوشنبه)) په ۲۳ ولایتونو کې د ماشومانو د ګوزڼ د ناروغۍ یا پولیو پر ضد د واکسین د فرعي کمپاین د پیل خبر ورکړی. دې وزارت ویلي ،چې د دې کمپاین په ترڅ کې به له پنځو کلونو کم عمره شاوخوا شپږ میلیونه ماشومانو ته د پولیو د واکسین څاڅکي ورکړل شي. یونېسف اعلان کړی. چې په افغانستان کې په ۲۰۲۳ م کال کې د پولیو لومړنۍ پېښه یې په ننګرهار ولایت کې ثبت کړې. افغانستان او پاکستان د نړۍ یوازیني دوه هیوادونه دي ،چې لا هم د پولیو د پېښې موارد په کې موندل کېږي.




## اسلامي امارت او د فرمايشونو پر ځای پر تعامل باور...!

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو دا دی نږدې دوه کاله پوره کېږي، د افغانستان داخلي وضعيت تر ډېره حده مثبت دی، سرتاسري امنيت تامين دی، متحد مرکزي او ځواکمن نظام رامنځته شوی، د صادراتو کچه له پخوا ډېره لوړه شوې، اقتصاد وده کړې او د ځينو مهمو او بنستيزو پروژو کارونه روان دي. دغه راز په کور دننه سياسي ثبات هم ټينګ دی، خلک له حکومت څخه خوښ او راضي دي؛ خو پر دې ټولو لاسته راوړنو سربېره هم نړۍ له افغانستان سره ناسم سياست مخته وړي.

د رسميت پېژندنې لپاره افغانستان ته د نړيوالو اصولو خلاف ځينې داسې شرطونه، غوښتنې او فرمايشونه وړاندې کوي، چې هيڅ د توجيه وړ نه دي، دغه فرمايشونه او غوښتنې بيا هر هيواد خپلو اهدافو او ګټو ته په کتو لري.

د افغانستان اسلامي امارت په وار وار له نړۍ سره د متقابلو ګټو پر بنسټ د تعامل غوښتنه کړې او په فرمايشونو او اړيکو کې د شرطونو وړاندې کول د ستونزو حل نه ګڼي.

له لومړۍ ورځې اسلامي امارت د نړيوالې ټولنې د يوه غړي هيواد په توګه له هېوادونو سره د مشروع ګټو او متقابل احترام پر بنسټ د اړيکو ټينګولو هڅه کوي او د دې مفکورې د تحقق لپاره په آرامه ډيپلوماسۍ کار کوي او په ځينو برخو کې لاسته راوړنې هم لري، اسلامي امارت له هېوادونو سره د اړيکو پر ساتلو او نړيوالو تړونونو ته متوجه دی او دوه اړخيزې ژمنې پېژني.

خو له بده مرغه بيا هم د ټولو نړيوالو کنوانسيونونو خلاف، د اسلامي امارت د منزوي کولو لپاره هڅې شوي او کېږي او په دې برخه کې زياتې پلمې شوې دي چې يوه له دغو پلمو څخه په افغانستان کې د ترهګرو ډلو شتون او د ګاونډيو او د سيمې د هېوادونو په وړاندې له افغانستان امنيتي څخه اندېښنې دي، په داسې حال کې چې د دې ادعا د ثابتولو لپاره هيڅ سند نه دي وړاندې شوی، مغرضې کړۍ د حقايقو د بيانولو په پرتله پر فرضيو باندې تکيه کوي.

اسلامي امارت له لرې او نږدې هېوادونو څخه په وار وارغوښتي، که د افغانستان له پلوه دوی له کومې ستونزې سره مخ وي، يا د ګواښ احساس کوي، د تورونو او بې بنسټه ادعاوو پر ځای دې، مستقيماً له اسلامي امارت سره خبرو ته کښېني او دغه ستونزې، ګيلې او غوښتنې دې له ډيپلوماتيکو لارو شريکې کړي.

اسلامي امارت د نړيوالو اصولو پر اساس اړيکې غواړي او په عمل کې يې ثابته کړې چې د سيمه ييزو همکاريو او همغږي د پراخولو فکر لري او له دې ور اخوا د هېوادونو ترمنځ د اړيکو پل دی او د اقتصادي او ترانزيټي همکاريو په پراخولو کې يې ښه عمل کړی دی او دا چې په سيمه ييزه کچه د لويو اقتصادي پروژو په تطبيق کې ښه شريک دي، نو له اسلامي امارت سره په تعامل کې چې ستره اقتصادي مفکوره او همکاري لري،له بې اصولو غوښتنو او فرمايشونو غوره داده، چې نږدې او لرې هېوادونه د افغانستان په اړه يو روښانه دريځ ولري ،په دغه هېواد کې له اوسنيو واقعيتونو سره همغږي او له اسلامي امارت سره د واقعيت پر اساس تعامل وکړي.

# د اردغان د را پرځولو لپاره د غربيانو دسيسې!

**احمد راشد**

پرون د مې ۱۴ مه په ترکيه کې د ولسمشرۍ او پارلماني ټاکنې ترسره شوې، چې درې نوماندان د ترکيې اوسنی ولسمشر رجب طيب اردغان، د خلکو د جمهوري غوښتونکي ګوند مشر کمال قليچدار اوغلو او ښي اړخی ملتپال سياستوال سنان اوغان به د ترکيې په ټاکنو کې خپل بخت وآزمويي او د ترکيې راتلونکی برخليک به ټاکي، په دغو نوماندانو کې رجب طيب اردغان شل کاله په ترکيه کې سياسي مزل کړی او اوس له سختې آزموينې تېرېږي، نو سږنۍ ټاکنې برخليک ټاکونکې او خورا مهمې دي.

د ترکيې ټاکنې دا ځل له دې امله ډېرې مهمې دي او د نړيوالو پام يې ځان ته ور اړولی، چې د ترکيې ځواکمن ولسمشر رجب طيب اردغان د يوه داسې اپوزېسيون په وړاندې سختې ټاکنيزې سيالۍ ته راوتلی، چې ټول د ده پر ضد ولسمشريزو ټاکنو ته يو ځای شوي دي. د ترکيې ټاکنې د امريکا او روسيې په ګډون د سيمې او نړۍ د هېوادونو لپاره مهمې دي. ظاهراً روسيه د ښاغلي اردغان له تګلارو خوښه ده او امريکا د قليچدار اوغلو مفکوره ستايي، ترکيه چې د غرب ضد کړنو او شخړو کې ايساره شوې وه، د اردغان په قيادت کې منطقوي لوبغاړې شوه او نړيوالو قضيو کې يې هم خپل ځای پيدا کړ. ترکيه چې په پوروونو کې ډوبه وه، خو د اردغان په واکمنۍ کې يې خپل اقتصاد ورغولو، د سکولار واکمنۍ ټول نړيوال پوروونه يې خلاص کړل او اردغان هلته په ترکيه کې نړيوالو پانګونو ته آسانتياوې رامنځته کړې، ترکيه په دغې موده کې د اقتصادي طرحو له امله خورا پياوړې شوه.

له برلينه تر واشنګټنه پورې د اردغان د ماتې د نمانځنې لپاره جشن او تيارى روان دی، خو له غرب وراخوا،په نږدې تهران کې هم دايراني ملايانو نظام رسنيو داردغان هغه کارتونونه خپاره کړل چې اردغان په کې خپل عثماني قره قلي په لاس کې نيولې او له ولسمشرۍ ماڼۍ وځي. له ايران وراخوا يو شمېر نور مهم خليجي هيوادونه هم د اردغان ماتې ته شيبې شماري،داسې ماته چې د ټول منځنې ختيځ نقشه به په کې بدله شي. اردغان په ترکيه کې يوازې شل کاله سياسي پرمختګ کړی، چې دا به له ۲۰۰۳ کال را وروسته د ترکيې له ټولو سخت انتخابات وي، داسې انتخابات چې ممکن اوسنی ترک ولسمشر رجب طيب اردغان به د غربيانو په دسيسو کې راګير او له واکه پرېوځي. هغه شيبه چې نږدې اروپا،لرې امريکا او ايراني اخوندان ورته سترګې په لاره دي. غرب په هر ځل ټاکنو کې د اردغان پر ضد موقف نيسي، غربي رسنۍ پر يوه ګډ تکي راټولېږي او ټولې د اردغان او د هغه د ګوند پر ضد څرخي، دوی اردغان پر ديکتاتورۍ تورنوي، نو غرب ته ديکتاتوري مهمه نه ده، خبره د پياوړې ترکيې ده، خبره د سيالې او ننګوونکې ترکيې ده او خبره د نړيوال نظم د بديلې او سيالې نظريې ده، هغه چې اردغان هر وخت په کې د امنيت شورا د جوړښت مزاحم دی او هغه چې هغه په کې د مسلمانانو د قضيو علمبردار... دا هر څه غرب ته او په ځانګړې ډول د نړيوال نظم سردارانو ته د منلو نه دي. غرب په دې پوهېږي چې اسلام د نړيوالې داعيې لرونکی دی، د جلا هويت او تشخص درلودونکی دی، خپلې هويتي نښې لري او د ژوند لپاره جلا نظم. په دغسې شاخصونو کې هر څوک چې اسلامي خلفيه



ولري هغوی له يوې پياوړې نظرياتي حمايې سره او په عددي ډول د مسلمانانو له کثرت سره غربي نړيوال نظم ته ګواښ پېښولی شي.

له کله چې په ۲۰۱۶ ميلادي کال کې په ترکيه کې په اردغان کودتا ناکامه شوه،نو غرب هلته يوه پياوړې تبليغاتي دستګاه فعاله کړه او دغه تبليغاتي دستګاه اردغان رېښتيا هم په ډېره چټکۍ سره مهار کړه، د ده محبوبيت يې راکم کړ او مخالفينو ته يې په ترکي ټولنه کې مثبت حيثيت ورکړ. د امريکا ولسمشر جوبايډن په ټاکنيزو منډو ترړو کې ويلي و (( زه به اردغان راوپرځوم،او دهغه له مخالفين وسره به مرسته وکړم. ځينې افغانان پر دې باور دي، چې د ترکيې د ټاکنو پايلې په دغه هېواد کې د افغان کډوالو پر وضعيت مثبته اغېزه ولري، ځکه په ترکيه کې تر ۱۰۰ زرو افغانانو خپلې رايې کارولې او د ترکيې په پارلماني ټاکنو کې ځينو مېشتو افغانانو ځانونه کانديد کړي دي، له همدې امله يو شمېر افغانان چې په ترکيه کې اوسېږي ، دغه ټاکنې واقعاً تاريخ جوړوونکې يادوي دا يوازې پر ترکيې اغېزه نه لري، بلکې د سيمې پر ټولو هېوادونو يې اغېز پرېوځي.

د نړيوال سياست هغه څېره چې ترکيه يې په تېره يوه‌نيمه لسيزه کې د اقتصادي او سياسي ثبات په لوري بېولې، بلکې د نړۍ او په تېره بيا د اسلامي نړۍ او منځنې ختيځ په قضيو کې يې هم اغېزناک رول لوبولی دی. اوس مهال د ترکيې په دغه ولسمشريزو ټاکنو د ولسمشر اردغان له ټولو سخت رقيب کمال کلېچدار اغلو دی،کوم چې د ترکيې د سيکولار جمهوريت د بنسټګر مصطفی کمال اتاترک له ګوند سره تړاو لري. د اردغان سيال قلېچدار اوغلو په جار ويلي ؛ ترکيه د خپل تاريخ له ټولو افراطي حالت څخه تېرېږي او که دی بريالی شي ، نو ترکي ځواکونه به ټول کور ته ستانه کړم، سيکولار ارزښتونه به خوندي کړي، کډوال به وشړي، د اردغان استبداد به پای ته ورسوي او د نړۍ پر چارو به غرض نه لري.

دا هغه څه دي چې ترکيه کوچنۍ کوي او غرب همدغسې يوه کوچنۍ ترکيه غواړي.

دا به ترکي ملت وي چې خپل زعامت وټاکي، دا کشمکش دی او ترکي ملت به په دې کشاله کې له نظرياتي محاسبې ور اخوا پر سياسي، اقتصادي او نظامي پرمختګونو هم حساب کوي، په داسې حال کې چې اپوزېسيون په دې محاسبه کې نه کومې لاسته راوړنې لري او نه د موجود حالت په پرتله د ښه حالت لپاره کومه منلې او عملي طرحه، نو په دې حساب به اپوزېسيون په ولسمشريزو ټاکنو کې لکه د تېر په څېر کامياب نه شي.

اردغان د خپلې کارېسماتيکې رهبرۍ سره په څنګ کې د لويو لاسته راوړنو د شل کلن تاريخ سند لري، هغه له خپل ولس سره هم په نظرياتي خپلولۍ او هم په سياسي، اقتصادي او نظامي پرمختګونو کې د رايو باور رامنځته کوي، په ډېر پياوړي احتمال به د ولسمشرۍ رايې په همدې لومړي پړاو کې د عدالت او پراختيا ګوند په ګټه او د رجب طيب اردغان په بري تمامې شي.د پارلمان رايې ښايي متفاوتې وي، ويل کېږي چې د عدالت او پراختيا ګوند کانديدان شايد لکه د پخوا په څېر اسانه سيالي ونه لري، په دغو سياليو کې د دوی په مقابل کې ځوان رهبران شتون لري او دا چې په ځانګړې ډول ځوان نسل بدلون غواړي نو کېدای شي پايلې د عدالت او پراختيا ګوند په قاطع ګټه نه وي. اټکل کېږي، چې د ترکيې د ننه او بهر به نږدې ۶۴ ميليونه ترکان په ولسمشريزو ټاکنو کې خپلې رايې وکاروي.

که هيڅ يو کانديد و نه توانېږي، چې په دې ټاکنو کې ۵۰+۱ رايې ومومي، بيا به د دوو مخکښو کانديدانو ترمنځ د رواني مې مياشتې پر ۲۸ مه نېټه د ټاکنو دويم پړاو پيلېږي.

# بررسی عوامل فقر از دیدگاه جامعه شناسان

**محمداسماعیل((کمال))**

فقر به عنوان یک معضل اجتماعی آشکار و پنهان دست در دست بسیار از جرایم را دارد و به عنوان عامل قریب در پیدایش وترویج انواع جرایم نقش تعیین کننده¬ دارد. فقر و محرومیت اقتصادی از متغیرهای مهم و تاثیر گذار در تکوین انواع انحرافات و جرایم... که ناشی از فقر اقتصادی است و نقش شایانی در زمینه سازی برای گرایش نوجوانان و جوانان به انحرافات و خلافکاری دارد.

مهمترین عوامل پیدایش فقر را باید در عرصه اقتصاد جستجو کرد؛ روابط ناسالم اقتصادی بر بسیاری از مردم تاثیر می نهد، شکاف طبقاتی میان اقلیت پرّ درآمد و اکثریت تهیدست را فزونی می بخشد و ممکن است سرانجام اقتصاد کشور را فلج کند؛ پیامدهای هر یک از عوامل مهم ایجاد و گسترش فقر به شمار می آید ، این عامل مهم عبارتند از:

۱-افزایش بی رویه قمیت ها : یکی از خصوصیات اقتصاد سالم، ثبات نسبی قیمت هاست. تورم های لجام گسیخته آثار سوء فراوانی در ابعاد مختلف اقتصاد برجای می¬نهد. پس انداز، تولید و ... پرداخت¬ها قابل مشاهده است هر یک به نحوی در پدیده فقر تاثیر می نهد. برخی از محققان اثر تورم بر توزیع درآمد را از دیگر موارد مهم¬تر می¬دانند و سبب فقر فراگیر و افزایش شکاف طبقاتی می شمارند. بدین ترتیب که بهای برخی از کالاها و درآمد بعضی از گروهها، با آهنگی شدید افزایش می یابد؛ در حالی که بهای فصلی دیگر از کالاها و درآمد سایر طبقات به کندی به بالا می رود یا ثابت می ماند. نتیجه این عدم تناسب، فقیر شدن طبقات متوسط و شدت یافتن فقر طبقات ضعیف است .

۲-فقدان امکانات شغلی : بیکاری بلای اجتماعی، اقتصادی شناخته شده است که با از دست دادن حیثیت و کاهش تولید و پس انداز می انجامد و از عوامل مهم پیدایش و تشدید فقر شمرده می شود.



پایین بودن نرخ بیکاری از شاخص¬های مهم توسعه یک کشور به شمار می آید و به همین جهت، ایجاد فرصت¬های شغلی برای جوینده گان کار، یکی از اهداف سیاست های اقتصادی است. برخی از افراد، به رغم وجود امکانات شغلی، به سبب تنبلی یا نداشتن تخصص لازم بی کار اند.

۳-ضعف مدیریت و تخصص نیروی انسانی : یکی از علل عمده فقر کشورها، فقدان مدیریت متخصص و کاردان در امور اقتصادی است. در قرآن کریم چنین آمده است: ترجمه: «اموال تان را، که خدا مایه سامان یابی زندگی شما قرار داده است، در اختیار کم خردان قرار ندهید.»( سوره نسأ، آیه ۵)

۱- باز دهی پایین و عدم کارآیی در تخصیص منابع : بیشتر اقتصاد دانان اقتصاد را به معنای استفاده بهینه از منابع کمیاب می دانند. هر کشوری که از منابع خود بهتر استفاده کند، در توسعه موفق¬تر خواهد بود. استفاده نادرست و غیر اقتصادی از این منابع اشکال مختلفی دارد؛ یکی از مهم¬ترین این مشکلات، که بسیاری از کشورهای جهان سوم با آن دست به گریبان اند، فروش منابع طبیعی به صورت خام است. کشورهای ثروت مند این منابع را به بهای ارزان می خرند و پس از انجام تغییراتی به بهای گزاف به صاحبان اولیه آن ها می فروشند. نکته قابل توجه آن است که گاه از نیروی کار ارزان و نیز پس انداز همین کشورها در بانک های کشور...**ص۵**

# مذاکره (روش سیاسی) حل و فصل مسالمت آمیز اختلافات بین المللی

عبدالمنان فاروقی

معمول ترین، و اولین روش حل مسالمت امیز اختلافات بین المللی « مذاکره دیپلماتیک» است. و یا به عبارت دیگر مذاکره از رایج ترین شیوه های سیاسی حل مسالمت آمیز اختلافات بین المللی است و نخستین گام و مقدمه توسل به دیگر روش های حل مسالمت آمیز می باشد. حتی پس از وقوع جنگ بین دو کشور، مذاکره اهمیت زیادی دارد. در ماده ۳۳ منشور ملل متحد، مذاکره به عنوان اولین طریق حل و فصل مسالمت آمیز اختلافات بین المللی ذکر شده است.

مذاکره از مؤثرترین روش هاست و از انعطاف بسیاری برخوردار می باشد. البته تأثیر آن در صورتی است که طرفین اختلاف مایل به رفع اختلاف باشند و نیروهای سیاسی آن ها تا حدی برابر باشد. در غیر این صورت، در مذاکرات سیاسی، کشورهای ضعیف دست خوش امیال و نظرات کشورهای بزرگ و قوی قرار می گیرند.

انواع مذاکره

۱- مذاکرات دو جانبه: به طور مستقیم توسط نمایندگان قانونی دو کشور درگیر و در مواردی از طریق مکاتبه صورت می گیرد. مذاکره دو جانبه در اغلب موارد، در سطح کارشناسان آغاز می شود و پس از انجام کارهای مقدماتی، مذاکره، در سطح مقامات بلند پایه صورت می گیرد. موفقیت مذاکرات تا حد زیادی منوط به اراده و حسن نیت طرفین است.

ب. مذاکرات چند جانبه: این مذاکرات زمانی مطرح می شوند که چند کشور در یک مسأله با همدیگر اختلاف دارند، و به صورت یک کنفرانس بین المللی صورت می گیرد. البته موفقیت این مذاکرات بستگی به شرکت همه کشورهای طرف اختلاف دارد.

۲- مذاکرات همه جانبه: امروزه برای مذاکرات چند جانبه، اصطلاح «دیپلماسی پارلمانی» متداول شده است. این اصطلاح توسط دین راسک به کار برده شد. وی مشخصات اصلی آن را چنین بیان کرد: «آنچه که باید «دیپلماسی پارلمانی» نامید نوعی مذاکره چند جانبه است.

۳ - مکان مذاکرات: مکان مذاکرات بر حسب نوع آن (مذاکرات دو جانبه، چند جانبه و همه جانبه) متفاوت است. در صورت بحرانی نبودن روابط کشورها، مذاکرات دو جانبه و چند جانبه معمولا در پایتخت یکی از کشورهای طرف اختلاف و یا به طور نوبتی در یکی از پایتخت ها صورت می گیرد و در صورت بحرانی بودن روابط کشورها، مذاکرات در یک کشور ثابت و بی طرف مانند سوئیس (ژنو) صورت می گیرد. اما مذاکرات همه جانبه معمولا در مقر یک سازمان بین المللی انجام می شوند.

٤ - مدت مذاکرات: عوامل گوناگون همچون حسن نیت طرفین، عمق اختلافات، مشاوره های مقدماتی و اوضاع و احوال سیاسی در مدت مذاکرات تأثیر گذارند. از این رو، نمی توان مدت زمان دقیقی برای پایان مذاکرات تعیین کرد.برخی از معاهدات بین المللی برای جلوگیری از اطاله مذاکرات، سقف زمانی مشخص برای پایان آن ها تعیین کرده اند. برای مثال، ماده ٤٢ کنوانسیون وین ۱۹۷۸، درباره جانشینی دولت ها در معاهدات، مدت شش ماه را برای حل و فصل اختلافات تعیین کرده است.

٥-تعهد به مذاکره در حقوق معاهدات

معاهدات بین المللی می توانند برای دولت ها، ریشه تعهد به مذاکره محسوب شود. گاهی این تعهدات، کلی اند، برای مثال دولت ها متعهد می شوند اختلافاتی را که ممکن است صلح و امنیت بین المللی را تهدید کنند، از طریق مذاکره با هر روش مسالمت آمیز دیگری مطابق ماده ۳۳ منشور ملل متحد حل و فصل کنند. در برخی موارد، این تعهدات کاملا خاص هستند، برای تعهد دولت ها در قالب یک توافق در زمینه کنترول تسلیحات، مذاکرات اقتصادی، حل و فصل اختلافات مرزی، منابع مشترک، مسائل محیط زیست.

**نتیجه :**

صرف نظر از آن که دولت ها متعهد به آغاز مذاکره در راستای حل وفصل اختلافات خود باشند، اگر مذاکره را آغاز کردند، مذاکرات مذکور باید با حسن نیت انجام بپذیرند. در ماده ۳۳ نیز تأکید خاصی بر مذاکره صورت گرفته است و «روش های حل و فصل مسالمت آمیز» را در فصل ششم منشور ملل متحد بیان نموده است. «طرفین هر اختلافی که ادامه یافتن آن به احتمال زیاد، برای صلح و امنیت بین المللی خطر ساز خواهد بود، باید «قبل از هر چیز» از طریق مذاکره، تحقیق، وساطت، مصالحه، داوری، حل و فصل قضایی، یاری جستن از آژانس ها یا تمهیدات منطقه ای، یا هر روش مسالمت آمیز دیگری که به دلخواه خودشان است، به دنبال راه حل باشند».

**منابع:**

۱.صلح چه دکترمحمدعلی؛ نژندی منش هیبت الله حل و فصل اختلافات بین المللی چاپ هفتم بهار۱۳۹۸).
۲.وفایی، مصور، علیپور، عادله، حل و فصل مسالمت امیز اختلافات بین المللی، انتشارات مجمع علمی و فرهنگی مجد، سال ۱۳۹۸، ۲٦۷.
۳.ناتان شاو، مالکوم، روش های حل و فصل مسالمت آمیز اختلافات بین المللی، ترجمه و تحقیق، سیده لطیفه حسینی، تهران، انتشارات قومس، ۱۳۹۷، ص۱۲۳.
٤.درویشی هویدا، یوسف، استفادهٔ مستقیم از کارشناس در حل و فصل اختلافات، فصلنامه حقوق، مجله دانشکده حقوق و علوم سیاسی، دوره ٤۰، شماره ٤، زمستان ۱۳۸۹، ص ۸۹
٥.ناتان شاو، مالکوم، روش های حل و فصل مسالمت آمیز اختلافات بین المللی، ترجمه و تحقیق، سیده لطیفه حسینی، تهران، انتشارات قومس، ۱۳۹۷، ص۱۱۷.

# پرخپلو امکاناتو په هیواد کې د بسیاینې اقتصادي او انکشافي پلان او طرحې

دریېمه برخه

غلام نبي ((ګل))

۱ ـ د تازه او نوې ځمکې ایجادول او خړوبول: له نن څخه ۵۰ کاله پخوا شهید محمد داود خان په زراعتي ځمکو کې د کورونو جوړول منع کړي وو، د هغه له شهادت وروسته د افغانستان په زرهاوو هکتاره اباده درجه اول ځمکه پر کورونو بدله شوې. دا په داسې حال کې ده چې موږ یو هکتار شاړه ځمکه نه ده اباده کړې او په همدې موده کې مو نفوس دوه برابره زیات شوی. د وخت تقاضا دا ده چې لاس په کار شو، زه د لویو بندونو جوړولو او د لویو کانالونو د وېستلو وړاندیز نه کوم، زما طرحه دا ده چې له خپل لیمخي سره پښې غځوو، په خپلو امکاناتو له ولس سره په شریکه طرحې جوړوو او هغه عملي کوو. موږ همداسې ظرفیتونه ډېر لرو. د بېلګې په ډول موږ په خپل هیواد کې د اوبو څلور حوزې لرو، له دې جملې څخه یوازې د کابل سیند حوزې دریو ولایتونو ( کنړ، لغمان، نورستان) کې د یوې موسسې د سروې پر اساس چې مدیرا نومیده ۲۹ واړه او متوسط کانالونه سروې شوي و، چې د په لاس راتلونکي ځمکې رقبه یې د همدې دریو ولایتونو له موجودې آبادې ځمکې نه زیاته وه. دا کار د افغانستان د اوبو په ټولو حوزو کې ممکن دی.

په هیواد کې د شوروي له ماتې وروسته د مجاهدینو د حکومتولۍ په اوایلو کې د لغمان په دولت شاه ولسوالۍ کې همداسې یو حرکت چې باید نوي کانالونه وباسي شروع شو. څو کلیو په شریکه د یو کانال کیندلو ته ملا وتړله، ۸۰ فیصده په خپلو امکاناتو حتی د کانال د مسیر ټاکلو او سروې نفر د سیمې یو بیسواده با تجربه کس و، دې کانال ۱۰ کیلومتره طول درلود، ددې کانال کیندلو ۷ کاله دوام وکړ، خو اول کلي ته یو کال کې اوبه ورسیدې او د نوې ځمکې جوړولو کار په کې شروع شو، د دې کانال د جوړولو جذابیت په دې کې و، چې ټول کار ولس کړ. د کانال له شروع کولو نه یې وړاندې یې ورته پالیسي او کړنلاره جوړه کړې. پدې کړنلاره کې دا شامل و، چې د شخصي ملکیتونو جدا کول او علامه ګذاري کول له اجتماعي ملکیتونو څخه باید وشي. کوم افراد چې په کار کې سهم اخلي هغو ته ځمکه ورکول کیږي، په خپله کار کول د دې کار ګټه دا ده چې پیسې له کلیو څخه نه وځي، د سیمې له نورو قومونو او موسساتو مرسته غوښتل او نور.جالبه دا ده چې کله د دې کانال کار نیمایي ته ورسېد د سیمې نورو قومونو ته هم ډاډ پیدا شو چې دوی هم داسې سخت کارونه کولی شي. هغوی هم په کانالونو کیندلو شروع وکړه، که څه هم د دې سیمې ۵۰ فیصده علاقه سرد سېره ده او ځینې برخې یې یوفصله دي، خو بیا هم تر ۸۰ فیصده د خلکو د خواراوبار مشکلات حل شوي دي. که چېرته همدا خلک باغداری ته مخه وکړي، زما باور دی چې دوی به له خپلو کلنیو مصارفو نه علاوه مازادې پیسې هم تر لاسه کړي. دا سیمه د حکومت او ولسونو په خدمت کې ده، هر څوک کولی شي هلته لاړ شي او کافي زده کړه ترې وکړي.د انکشافي او پراختیایي فعالیتونو یو مهم اصل دا دی چې پر خلکو او ولس باندې تکیه وشي. او همدارنګه بله مهمه خبره په دې برخه کې دا ده چې هم له ولس او خلکو نه زده کړه وشي او هم خلکو ته ور وښودل شي. په تېر شل کلن اسارتي دوران کې د ډېرو پیسو باوجود دا کار ونشو، د نړۍ د نورو ځایونو تجربې دلته پلې شوې چې نتیجه یې ټولو لیدلې ده. اشرف غني په ډاګه اعلان وکړ چې ۹۰ فیصده زموږ خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. زموږ د مبارک دین حکم دا دی چې په مادي برخه کې د اسلامي ټولنې ټول افراد د خوراک، پوښاک او هستوګنځي (کور) له اړخه مساوي او هم سطحه ژوند ولري او یا ډېر فاحش تفاوت پکې نه وي. د کمونیزم د فلسفې اساس چې یو وخت یې نیمې دنیا پیروي کوله کور، کالي، ډوډۍ و او دا شعار یې له اسلام څخه اخیستی. په اسلام کې که د چا پر تن جامې نه وي لمونځ یې نه کیږي او همدارنګه که خیټه یې وږې وي په لمانځه کې یې حضور نه برابریږي. او که یو مسلمان کور ونلري د ستر انتظام یې نه کیږي. د صدر اسلام نه واخله بیا تر ننه پورې د اسلامي نړۍ ډېرو متفکرینو او لویو عالمانو دې ته زړه نه دی ښه کړی چې په خپلو هیوادو کې د حکومتونو برخه شي، دا له دې ویرې چې توازن به رامنځته نشي کړای. په کفري ټولنو کې حکومتولي اسانه ده، که اشتباه وکړي یوازې د دنیا حساب یې په مخکې پروت دی که ډېر تاوان وکړي بلې دورې ته به د کامیابۍ چانس له لاسه ورکړي، خو که مسلمان حاکمان توازن رامنځته نکړي او خپل رعیت ته کور، کالي او ډوډۍ برابره نه کړي هم به یې په دنیا مخ تور وي او هم په آخرت. په تېره نیمه پیړۍ کې د نړۍ دوه اول قدرتونه ډېرې زموږ هغو شاه زلمو مات کړل چې په دا لوی افغانستان کې یې نه یو لویشت ځمکه درلوده او نه خپل کور او کوډله. هغه چې همدې مادروطن په ناز او نعمت روزلي وه، یا له دښمن سره یو ځای شول او یا یې دښمن ته پناه یوړه. اوس لازمي دا ده چې د همدې د ناز نعمت والاوو شتمنې او جایدادونه زموږ د دواړو معرکو د شهیدانو او بې پولې او پتې مجاهدینو باندې وویشل شي او که امارت اسلامي دا کار نه کوي، نو نوې ځمکه او جایداد دې ورته پیدا کړي. او هغه په لاندې ډول:

د پورته ذکر شوي هدف لپاره چې یتیمان د جایدادونو خاوندان شي او په عین حال کې زموږ د زراعتي پیداوارو کچه لوړه شي او ملي اقتصاد مو وده وکړي لاندې چارې باید ترسره شي.

د نویو کانالونو د کیندلو چارې په یو وخت کې زموږ د هیواد په ټولو لویو او وړو سیندونو کې د عملي کېدو وړ دي او دا کار په دوه ډوله عملي کیدای شي.

۱ ـ خپله د سیمې خلک خپلو سیمو کې سروې کوي.

۲ ـ داخلي پانګه اچوونکي دې تشویق شي چې په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي.

پورته دواړه لارې د حکومت لخوا د پروسیجرونو، پالیسیو او فرمانونو نافذولو ته اړتیا لري او همدارنګه یوه ځانګړې اداره باید په دې برخه کې د املاکو یا زراعت وزارت په چوکاټ کې ایجاد شي چې اړوندو کارونو ته رسیده ګي وکړي او هم په دې برخه کې پالیسۍ جوړې کړي او د کابینې تایید واخلي.زما په فکر که چېرته د ولسي خلکو لخوا نوی کانال کیندل کیږي، نو ۷۰ فیصده لاسته راغلې ځمکه ولسي خلک اخلي او ۳۰ فیصده دولت ته ورکوي. او که زموږ پانګه وال په دې برخه کې پانګه اچونه کوي، نو ۵۰ فیصده لاسته راغلې ځمکه پانګه وال اخلي او ۵۰ فیصده یې د دولت برخه ده. دا یو اټکل دی چې د اړوندې اداري لخوا به چې جوړیږي دا باید محاسبه کړي، د کانال مصارف او د لاسته راغلې ځمکې مصارف ددې وسنجوي او بیا دې فیصدي وټاکي، په همدې برخه کې د پالیسیو او قوانینو په جوړولو کې باید له اوله روښانه وي چې دولت ته په لاس ورغلې ځمکه زموږ د نیمې پیړۍ د دواړو معرکو د شهیدانو په ورثه وو، معیوبینو او هغو شاه زلمو وویشل شي چې په دې دواړو معرکو کې ثابت قدم پاتې شوي. په همدې برخه کې زما بل وړاندیز دا دی چې دولت هغه زراعتي ځمکې چې فعلاً یې په اختیار کې لري او داجارې په شکل افرادو ته ورکړ شوي او هغه ځمکه چې د سلما بند له کانال او نورو کانالونو په لاس راغلې پر یتیمانو ، غازیانو او زموږ د دواړو معرکو په معیوبینو وویشي.

۲ـ د قبرستانونو انتقال هغو ساحو ته چې اوبه کیدل یې ناممکن وي:

د حکومتونو له دندو څخه یوه دنده دا ده چې پر نژدې او لرې آینده فکر وکړي، په خواشیني سره چې زموږ تیرو حکومتونو دا فکر ندې کړي چې نفوس به زیاتیږي او د ځمکې له قلت سره به مخامخ کیږو، دا تیر غلام حکومت خو په لسګونو ښارونه او ښارګوټي په زراعتي ځمکو کې جوړ کړل، او پر دې علاوه یې د هغو افرادو مخه ونه نیوله چې د ښارونو په څنډو کې یې زراعتي شخصي ځمکې او جایدادونه درلودل. دې افرادو خپلې ځمکې په لوړ قیمت خرڅې کړې. تیر غلام حکومت په دې کې هم پاتې راغی چې دا ځمکې استملاک کړي او بیا یې په نقشه پر خلکو وپلوري. که څه هم داسې استملاک جرم دی، خو له دې به ښه و چې دوه تاوانه مو په یو تاوان بدل شوي وای. اوس خو مو هم زراعتي درجه اول ځمکه له لاسه ورکړې او هم ښارونو د قرون وسطا د ښارونو په څیر پراختیا موندلې چې هم یې امنیتي چاره سخته کړې او هم د خدماتو رسولو.

تر کومه چې ماته معلومه ده یهودو او نصاراوو په دې اواخرو کې د قبرونو د پراختیا چاره داسې کړې چې هره کورنۍ تر ځمکې لاندې یو یا دوه ۱۰،۱۵ منزله سیمنټي قبرونه لري چې د الماري د خانو په شان جوړ دي. په هره خانه کې یو مړی ږدي او په سمنټي تخته یې مخه بندوي. دا د هغوی کار ده، زه د خپل مشکل د حل خبره کوم. دا چې زموږ هیواد غرني دی او له لوړو غرونو او غونډیو نه جوړ دي، مسکني سیمو ته څېرمه داسې ځایونه ډېر لري چې اوبه کول یې ممکن نه وي. که څه هم د قبرونو موضوع زموږ دین کې نه بلکې زموږ په عرف کې یوه حساسیت پاروونکې موضوع ده، زما هیله دا ده چې د ښاروالیو او د حج اووقافو د ادارو لخوا په دې مسئله په شریکه کار وشي او له زراعتي ځمکو څخه په اینده کې د قبرستانونو لپاره استفاده ونشي.د حکومت او ښاروالی مسئولیت به دا وي چې هر کلی او یا ښارګوټي ته چې قبرستانونه یې په زراعتي ځمکو کې دي د هغو لپاره په هغه ځای ساحه تعینه شي چې اوبه کول یې ممکن نه وي او د دې په خوا کې ورته د امبولانس بندوبست وشي.

# جرایم سایبری (مجازی)

پوهیالی ماستر حلیم شاه ((لودین))

جرائیم سایبری، نوعی از جرائم اینترنتی می‌باشند که شامل جرم هایی هستند که در محیط سایبر بوجود می‌آیند، که در این مقاله ما به تعریف محیط سایبر که یک محیط مجازی می‌باشد و به خصوص محیط سایبر، بطوریکه کاربران می‌توانند به هرگونه خدمات اطلاعاتی الکترونیکی در سراسر دنیا دستیابی پیدا کنند و چگونگی ایجاد جرایمی که در فضای سایبر کاپی عین اصل می‌باشد و انواع مجرمین محیط سایبر شامل هکرها Hackers ، کرکرهاCracker، فریک های تیلفون و انواع جرم های ممکن با نام (سایبر کرائم) و در مورد جرم آینده با نام تروریسم سایبر که مانند تروریست‌های معمولی دارای انگیزه های سیاسی برای ارتکاب جرائم هستند و همچنین در مورد پولیس سایبر که مطابق با خاص بودن جرم های سایبر، نیاز به آموزش های خاص دارند و در آخر در مورد روشهای امنیت شبکه و داده ها می‌پردازیم.

تاریخچهٔ جرائم سایبر : در اواسط دههٔ ۹۰ با گسترش شبکه های بین‌المللی و ارتباطات ماهواره‌ای، نسل سوم جرائم کمپیوتری، تحت عنوان جرائم سایبری (مجازی) یا جرائم در محیط سایبر شکل گرفته‌است. به این ترتیب جرائم اینترنتی را می‌توان مکمل جرائم کمپیوتری دانست، بخصوص اینکه جرائم نسل سوم کمپیوتری که به جرائم در محیط مجازی معروف است، غالباً از طریق این شبکه جهانی به وقوع می‌پیوندد.

تعریف محیط سایبر : از لحاظ لغوی در فرهنگ های مختلف سایبر به معنی مجازی و غیر ملموس می‌باشد، محیطی است مجازی و غیرملموس موجود در فضای شبکه‌های بین‌المللی (این شبکه‌ها از طریق شاهراه‌های اطلاعاتی مثل اینترنت بهم وصل هستند) که دراین محیط تمام اطلاعات راجع به روابط افراد، فرهنگها، ملتها، کشورها و به طور کلی هرآنچه در کرهٔ خاکی بصورت فیزیکی ملموس وجود دارد (به صورت نوشته، تصویر، صوت، اسناد) دریک فضای مجازی به شکل دیجیتالی وجود داشته و قابل استفاده و دسترس کاربران می‌باشند و به طریق کمپیوتر، اجزای آن و شبکه‌های بین‌المللی بهم مرتبط می‌باشند.

مجرمین سایبر:

•هکرHackers: دردههٔ ۱۹۷۰ لفظ یا واژهٔ هکر به شخصی اطلاق می‌شد که در برنامه‌نویسی بسیار ماهر و باهوش باشد. بعدها دردههٔ ۱۹۸۰ این اصطلاح به معنی شخصی بود که در نفوذ به سیستم‌های جدید به صورت ناشناس تبحر داشته باشد. امروزه بیشتر با هدف ترساندن هکرها، رسانه‌ها و مقامات مسئول مانند آژانس‌های دولتی وادارات پولیس، این واژه به هر شخصی که مرتکب یک جرم مرتبط با فناوری شود، اطلاق می‌کنند. این درست است که هکرهای کنجکاو می‌توانند سهواً باعث زیان‌های قابل توجهی شوند، اما جستجو برای یافتن اطلاعات وآموزش، نه انتقام گیری یا صدمه زدن به دیگران، عاملی است که باعث می‌شود اکثر هکرها سرگرمی خود را به نحوی بیرحمانه دنبال کنند.

•کرکرهاCracker: ازسوی دیگر کرکرها هکرهای بدخواهی هستند. آنها به سیستم‌ها رخنه می‌کنند تا خرابکاری کنند، ویروس‌ها و کرم‌های کمپیوتری را منتشر کنند، فایلها را پاک کنند یا بعضی انواع دیگر ویرانی را به‌بارآورند. اختلاس، کلاهبرداری یا جاسوسی صنعتی (سرقت اطلاعات محرمانه یک شرکت) تنها بخش کوچکی از اهداف احتمالی کرکرها می‌باشد.

•تفاوت هکرها و کرکرها: هکرها دریک مورد مهم با کرکرها تفاوت دارند، کارهایی که آنها انجام می‌دهند معمولاً از روی بدخواهی نیست .

انگیزه کاری که می‌دانند قانونی نیست به لذت دست زدن به چنین تجاربی توسط هکرها به عنوان سرگرمی می‌افزاید. آنها در فعالیت‌های خود معتقد به نگرش (ببین اما دست نزن هستند).

•فریک‌های تیلفون:

شکل دیگر از جرائم کمپیوتری را فریک های تیلفون مرتکب می‌شوند. فریک ها به جای دسترسی به سیستم های کمپیوتری، از طریق خطوط تیلفون در دنیای سایبر گشت می‌زنند.

فریک‌ها از میان اولین هکرها در دهه۱۹۷۰ پدید آمدند. یکی از حوادثی که توسط فریک ها بوجود آمده بود در سال ۱۹۷۷ مربوط به ادارهٔ پولیس شهر نیویارک می‌شد بیشتر هکرها برای این کار، تمایل شدید به یادگیری نحوه کار سیستم کمپیوتر، یافتن راهی برای ورود مخفیانه به آنها و پیداکردن سوراخ‌های امنیتی این سیستم هاست هیجان خواندن اطلاعاتی که می‌دانند اجازه دیدن آنهارا ندارند یا انجام ، فریک ها به سیستم تیلفون این اداره نفوذ کرده بودند و متن ضبط شده‌ای را که به تماس گیرندگان خوشامد می‌گفت تغییر داده بودند، در متن ضبط شدهٔ جدید گفته می‌شد که افسران پولیس مشغول خوردن نان شیرینی و نوشیدن قهوه هستند و فر صت جواب دادن به تیلفون ها را ندارند، این پیام به تماس گیرندگان توجه می‌کرد که در موارد اورژانس با شماره ۱۱۹ تماس بگیرند.

انواع جرائم سایبری

تنوع انواع جرائم ارتکابی در سایبر سپیس شامل جرائم نسل اول کمپیوتری (البته به شکل نوین) و تعدادی جرائم بسیار جدید و بی سابقه می‌باشد.

جرائم سنتی در محیط دیجیتال

جاسوسی کمپیوتری:

جاسوسی کمپیوتری همانند جاسوسی کلاسیک ناظر به کسب اسرار حرفه ای، تجاری، اقتصادی، سیاسی، نظامی و نیز افشا و انتقال و استفاده از اسرار است، فرد مرتکب جرم با...ص۵

# د تابعینو د ژوند پلوشې

## لومړۍ برخه

لیکوال: ابومحمد المدني
ژباړه :مولوي فیض الله

**مګر ابوبکر صدیق - رضي الله عنه- معلومات کول تر څو پوره معلومات یې وسي او څارنه به یې کوله نو له هغو اولو کسانو څخه چې نوموړي د سیرین په باره کې معلومات ځني وکړل هغه انس بن مالک - رضي الله عنه- و. انس بن مالک -رضي الله عنه- په ځواب کې ورته وویل: اې امیر المؤمنینه! په نکاح یې ورکړه او د ده په اړه پرېشاني مه کوه، ما په ده کې یوازې او یوازې خیر لیدلی، د ښو اخلاقو خاوند،له مېړاني څخه ډک دئ. کله چې خالد بن ولید - رضي الله عنه- د عین التمر په غزاء کې څلوېښت غلامان مدینې منورې ته راوستل، د هغو څخه یو دی وو، چې زما به نصیب سوی و او زه ځني برخمن سوم.**

امام محمد ابن سیرین – رحمه الله تعالی

«ما رأیت رجلا أفقه في ورعه، ولا أورع في فقهه من محمد بن سیرین» [ مورق العجلي]

ژباړه: له محمد بن سیرین – رحمه الله تعالی- مې ډېر پرهېزګاره او په دین پوه نه دئ لیدلی.

سیرین یو ماهر فلزکار و، چې کټوي یې جوړول. کله چې انس بن مالک - رضي الله تعالی عنه- نوموړی آزاد کړ، ده له خپل کسب څخه یو څه اندازه مال ترلاسه کړی و، نو یې اراده وکړه چې د خپل ایمان پاته برخه پوره او کامله کړي نو د امیر المؤمنین ابو بکر صدیق - رضي الله عنه- مینځه صفیه یې په نکاح کړه.

سیرین هم امیرالمؤمنین ته راغلئ او مرکه یې ورته وکړه چې صفیه - رضي الله عنها- ما ته په نکاح راکړه. ابوبکر صدیق - رضي الله عنه- هم په چسپاندی سره د ده په اړه معلومات شروع کړل لکه څنګه چې یو مهربانه پلار د خپلې لور لپاره معلومات کوي او هیڅ تعجب نه دی ځکه صفیه - رضي الله عنها- ابوبکر صدیق - رضي الله عنه- ته د اولاد په څېر وه که څه هم د ده مینځه وه.

مګر ابوبکر صدیق – رضي الله عنه- معلومات کول تر څو پوره معلومات یې وسي او څارنه به یې کوله نو له هغو اولو کسانو څخه چې نوموړي د سیرین په باره کې معلومات ځني وکړل هغه انس بن مالک – رضي الله عنه- و. انس بن مالک –رضي الله عنه- په ځواب کې ورته وویل:

اې امیر المؤمنینه! په نکاح یې ورکړه او د ده په اړه پرېشاني مه کوه، ما په ده کې یوازې او یوازې خیر لیدلی، د ښو اخلاقو خاوند،له مېړاني څخه ډک دئ.

کله چې خالد بن ولید – رضي الله عنه- د عین التمر په غزاء کې څلوېښت غلامان مدینې منورې ته راوستل، د هغو څخه یو دی وو، چې زما به نصیب سوی و او زه ځني برخمن سوم.

حضرت ابوبکر صدیق - رضي الله عنه- هم ورسره موافق سو او صفیه یې سیرین ته په نکاح ورکړه او قصد یې وکړ چې داسې به یې رخصتوم لکه څنګه چې یو مهربانه پلار خپله ګرانه لور له کور څخه رخصتوي، نو راولاړ سو د دې د واده په کارونو داسې مصروف سو چې ډېرې لږ ښځې له داسې شیانو څخه برخمنې سوې وې. د واده مراسمو ته یوه ډېره لویه ډله د مشرانو صحابه کرامو – رضي الله عنه- څخه راغلې وه، چې په دوی کې دوولس بدري صحابه کرام – رضي الله عنهم- هم و او خپله صفیې ته د وحیو لیکونکي أبي بن کعب - رضي الله عنه- دعا وکړه او نورو حاضرینو د نوموړي پر دعا آمین وواېه.

دارنګه کله چې یې دا خپل خاوندته استوله، د دې د ښایسته او خوشبویه کولو چارې د مؤمنانو درو میندو - رضوان الله علیهن- ترسره کړې. د دغې مبارکې نکاح ثمره او نتیجه دا سوله چې دوی دوو ته الله تعالی یو هلک په رزق ورکړ، چې له دوو لسیزو وروسته له مشهورو تابعینو څخه یو مشهور تابعي و ګرځېد او په مسلمانانو ته زیات خوښ وو، نو راسئ چې د دغه جلیل القدر تابعي ژوندلیک له سره څخه راشروع کړو.

د امیر المؤمنین عثمان بن عفان- رضي الله عنه- د خلافت دوه کاله پات وو چې محمد بن سیرین وزېږېد. په داسې کورنۍ کې تربیه سو چې له هر غړي څخه یې تقوی او پرهېزګاري د مشکو په شان خپرېدله.

کله چې دغه ذکي، ځیرک او هوښیار هلک ځوانۍ ته نږدې سو نو د رسول الله - صلی الله علیه و سلم- هغه مسجد یې پیداکړ کوم چې د مشرفو صحابه کرامو او مشرانو تابعینو، لکه: زید بن ثابت، انس بن مالک، عمران بن حصین، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عباس، عبدالله بن الزبیر او ابوهریرة – رضي الله عنهم- به په هغه کې سره راجمع کېدل.

نوموړي هم ددوی طرف ته داسې توجه وکړه لکه یو ډېر تږی کس چې خوړو اوبو ته علاقمند وي، نو ادامه یې ورکړل او تر هغو یې د دوی څخه د کتاب الله، په دین کې د پوهې او د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د حدیثو علم حاصلاوه ترڅو چې عقل یې له علم او حکمت څخه ډک سو او ځان یې د هدایت، اصلاح او نېکیو لوړو درجو ته ورساوه.

وروسته یې کورنۍ له دغه ممتاز ځوان سره یوځای بصرې ته وکوچېده او هغه ځای یې د ځان لپاره وطن وګرځوئ. بصره په دغو ورځوکي داسې ښار و لکه یو کس چې نوی پر ځوانۍ راغلی وي او مستي کوي. د عمر فاروق - رضي الله عنه- دخلافت په آخرو وختونو کې د مسلمانانو خط همدغه ځای و او په دغو وختونو کې د اسلامي امت مثال په دوی سره ویل کېده او دغه ځای د مسلمانو غازیانو لپاره عسکر کوټ بلل کېده.

سربېره پر دې د هغو نویو مسلمانانو لپاره کوم چې به د عراق او فارس څخه په دین کې داخلېدل یو مرکز هم وو.

په دغه ښار کې داسې یوه رښتیني اسلامي ټولنه وه چې په دنیا کې یې داسې ژوند کاوه لکه همېشه چې په کې اوسېږي او د آخرت لپاره یې داسې اعمال کول لکه سبا چې مړ ه کېږي.

محمد بن سیرین- رحمة الله علیه- د ځان لپاره دوې برابرې او مساوي تګلارې ټاکلې وې، چې د ورځې یوه برخه یې د علم او عبادت لپاره خاصه کړې او بله برخه یې د کسب او تجارت لپاره وه.

کله چې به لمر راوختئ او مځکه به د الله تعالی په نور سره روښانه سوله، نوموړی به د بصرې مسجد ته ولاړئ په ښوونه او زده کړه به بوخت سو تر څو چې به غرمه کېده، بیا به له مسجد څخه بازار ته د راکړې ورکړې لپاره تلئ.

کله چې به شپه راغلل او پر نړۍ به یې خپلې پردې راځوړندې کړې نو د خپل کور په محراب کې به ودرېدئ او تر هغو به یې تلاوت کوئ تر څو چې ملا به یې د قرآن په تلاوتولو کږه سوه او د الله تعالی د بېرې څخه به یې په ژړا پیل وکړ، تر داسې حالت پورې چې کورنۍ او نږدې همسایګان به یې غمجن سول چې هسې نه له ډېرې ژړا څخه یې د زړه رګونه ودرېږي.

دارنګه نوموړی چې به کله د ورځې په جریان کې د راکړې ورکړې لپاره بازار ته تلئ همېشه به یې خلګو ته د آخرت یادونه کوله او ددنیا په کارونو کې به یې پوهاوی ورکوئ او دوی ته یې هغه څه ښودل چې الله تعالی ته د نږدې کېدو سبب ګرځېدل او د دوی که په کوم څه کې سره اختلاف و د هغو فیصله به یې ورکوله.

دوی ته به یې ګړی په ګړی داسې بهترینې ویناوې کولې چې ناپاکو زړونو به هم غوږ ورته نیولی و بې له دې چې د دوی په زړونو کې د نوموړي څه قدر او عزت کم سي، نو الله تعالی ده ته هدایت او د نېکانو هیئت جوړول ور په برخه کړل او ورڅخه قبول یې کړل. هغه غافل او بېباکه خلګ داسې سول چې دی به یې ولیدئ بیداره به سول او د الله تعالی ذکر، تهلیل او تکبیر ویل به یې شروع کړله.

دمحمد بن سیرین – رحمه الله تعالی- د عمل کولو داسې تګلاره وه چې د خلګو لپاره یو ښه لاربښود و. نوموړي ته که به په تجارت کې دوې مختلفې لارې مخ ته راغلې، نو چې په دین کې کومه یوه درنه وه پر هغې به یې عمل کاوه که څه هم په هغه کې به یې د دنیا تاوان وو.

د دین په امورو کې د ده د پوهې ژوروالي او د روا- ناروا په باب د ده ښه فکر به کله کله د نوموړي موقف ته زیان رسوئ چې په دې سره به خلګ په تعجب کې سول.

له دې ډول واقعاتو څخه یو وخت یو کس پر نوموړي د دوو درهمو دعوه وکړه، ده یې له ورکړې څخه انکار وکړ، نو هغه سړي ورته وویل: آیا ته قسم اخلې؟

د دې سړي داسې فکر و، چې دی ددوو درهمو پر سر قسم نه اخلي، خو محمد بن سیرین - رحمه الله تعالی- ورته وویل: هو! او قسم یې ورته واخیست.

خلګو ورته وویل: اې ابوبکره! تا د دوو درهمو پر سر قسم واخیست؟ تا خو پرون څلوېښت زره درهم یوازې په دې وجه پرېښودل چې تا ته لږ شک په کې پیدا سو او بل هیڅا ته په هغه کې شک نه و.

د ابن سیرین- رحمه الله تعالی- مجلس له خیر، برکت او پنده ډک مجلس و. کله چې به د نوموړي په مخکې یو کس په بدو سره یاد سو، نو نوموړي به ژر د هغه یو ښه صفت وواېه چې دی به پرې خبر و.

یوه ورځ نوموړي یو کس ولید، چې حجاج بن یوسف ته د هغه له مرګه وروسته بد و رد ورته وایي، ابن سیرین - رحمه الله تعالی- ورته وویل:

اې وراره! بد و رد مه وایه، حجاج خپل رب ته ولاړئ او کله چې ته خپل رب ته وړاندې سې، نو ستا هغه ډېره کوچنۍ ګناه به د حجاج له هغې غټې ګناه چې هغه کړې ده پر تا ډېره سخته وي؛ ځکه په هغې ورځ به هرکس په جلا حال کې وي چې هغه به یې بې پروا کړی وي.

اې وراره! خبر اوسه! الله تعالی به ډېر ژر د مظلومانو بدل له حجاج څخه واخلي پر کومو چې ده ظلم کړی دئ، دارنګه له هغو کسانو څخه به هم بدل واخلي چې پر ده یې ظلم کړی دئ. نو ته له نن څخه وروسته هیچا ته بد و رد مه وایه.

همدا ډول کله چې به له نوموړي څخه کوم چا د تجارت د سفر لپاره رخصت اخیستئ، ده به ورته ویل:

اې وراره! له الله تعالی څخه وبېرېږه او هغه څه وګټه چې الله تعالی تا ته له حلالې لارې څخه ټاکلي دي. او په دې ځان پوه کړه! که چېرې د ناروا په لټه کې سوې نو تر هغه څه زیات نه سې پیدا کولای چې تا ته الله تعالی ټاکلي وي.

محمد بن سیرین- رحمه الله تعالی- د بني امیة له حاکمانو سره داسې ګوزاره کوله چې د دوی په مخکې به یې د حق د کلمې آواز پورته کاوه او یوازې به یې د الله تعالی او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم- او د مسلمانو امامانو لپاره بلنه او دعوت کاوه.

له دې جملې څخه یو وخت عمر بن هبیرة الفزاري چې د بني امیه له طرفه د عراق والي و، نوموړي ته یې خبر ورکړ، چې له ده سره ملاقات ته حاضر سئ، نوموړی هم له خپل وراره سره یوځای ورغی.

کله چې هغه ته ورغی نو والي ښه راغلاست ورته وواېه او په ډېر عزت او درناوي سره یې مجلس ورسره پیل کړ، د دین او د دنیا د ډېرو چارو په اړه یې پوښتنې ځني وکړې، وروسته یې ورته وویل:

اې ابوبکره! د مصر خلک دې څنګه پرېښودل؟

ابن سیرین – رحمه الله تعالی- ورته وویل:

په دې وجه مې پرېښودل چې ظلم په دوی کې عام سوی و او ته له دوی څخه بې پروا او ناخبره یې.

په دې وخت کې یې وراره پر اوږې وښوروئ، ابن سیرین - رحمه الله تعالی- ورته وکتل او و یې ویل:

له تا څخه پوښتنه نه ده سوې، بلکې له ما څخه پوښتنه سوې ده او دا شاهدي ده او څوک چې شاهدي پټه کړي د هغه زړه به ګناهکار وي.

کله چې مجلس ختم سو، نو عمر بن هبیرة ابن سیرین- رحمه الله تعالی- داسې په عزت او اکرام سره رخصت کړ څنګه چې یې استقبال کړی و او د درو زرو درهمو همیانۍ یې په تحفه کې ورکړه خو نوموړي و نه منلو.

وراره یې ورته وویل:

ته ولې د امیر تحفه نه قبلوې؟

نوموړي ورته وویل:

هغه ما ته په دې خاطر تحفه راکړه چې پر ما ښه ګومان کوي، نو که زه له ښو خلګو څخه یم ما ته مناسبه نه ده چې دا تحفه قبوله کړم او که زه داسې نه یم لکه هغه چې ګومان کړی دئ نو بیا خو ښېځي ما ته روا نه ده چې دا تحفه قبوله کړم.

کله چې الله تعالی د محمد بن سیرین- رحمه الله تعالی- د صدق او صبر امتحان اخیستئ، نو په هغو امتحاناتو کې یې راګیر کړ لکه نور مسلمانان چې یې راګیر کړي وو. د ده په باره کې راځي چې یو ورځ یې په پور د څلوېښتو زرو غوړي رانیول. کله چې یې د غوړو سر ورخلاص کړ، ګوري چې پړسېدلی موږک په کې سته. له ځان سره یې وویل:

غوړي ټول په یوه کارخانه کې ایستل کېږي او نجاست یوازې په دغه لوښي کې دئ په نورو کې نه سته، که یې پلورونکي ته بېرته ولېږم پر نورو خلګو یې خرڅوي، نو یې ټول تویې کړل او دا په داسې وخت کې و چې نوموړي له ډېرو تاوانونو څخه کوم چې ده ته اوښتي وه سر ټکوئ. نو د غوړو پور هم ور باندې سو او د غوړو خاوند د خپل مال غوښتنه ځني وکړه، خو ده یې د ادا کولو توان نه درلود نو دعوه یې قاضي ته ولاړه او قاضي یې د بندي کولو حکم وکړ تر څو چې پور ادا کوي.

کله چې په بندیخانه کې واچول سو او بند یې اوږد سو نو د محبس عسکر چې د نوموړي له علم، دینداري، تقوا او ډېر عبادت څخه خبر و پرده وبېرېدل او ورته و یې ویل:

شیخ صاحب! کله چې شپه سي کور ته ځه او له خپلې کورنۍ سره شپه تېروه او کله چې ورځ سي نو بېرته راځه، تر هغو پورې داسې کوه چې له بند څخه خلاصېږې.

نوموړي ورته وویل: یا! په الله تعالی قسم چې داسې به و نه کړم.

هغو عسکرو ورته وویل: ولې؟ الله تعالی دې هدایت درته وکړي.

محمد بن سیرین - رحمه الله تعالی- ورته وویل:

له امیر سره پر خیانت کولو باندې زه له تاسې سره کومک نه سم کولای.

کله چې د انس بن مالک- رضي الله عنه- د مرګ وخت رانږدې سو نو وصیت یې وکړ، چې محمد بن سیرین – رحمه الله تعالی- دې ما ته غسل او لمونځ راکړي، خو دی لا تر اوسه په بند کې وو.

کله چې انس- رضي الله عنه- وفات سو خلګ والي ته ورغلل او د رسول الله - صلي الله علیه وسلم- د ملګري او خادم له وصیت څخه یې خبر کړ او اجازه یې وغوښتل چې محمد بن سیرین – رحمه الله تعالی- دې آزاد سي تر څو چې هغه وصیت پر ځای کړي، نو هغه هم اجازه ورکړل.

محمد بن سیرین- رحمه الله تعالی- خلګو ته وویل:

زه تر هغه وخته پورې نه درسره ځم تر څو له هغه پوروړي څخه مو اجازه نه وي اخیستې؛ ځکه زه د هغه د حق په مقابل کې بندي سوی یم.

هغه پوروړي هم اجازه ورکړه.

په دې وخت کې نوموړی له بندیخانې څخه راووتئ او انس- رضي الله عنه- ته یې غسل او کفن ورکړ او لمونځ یې ورکړ. وروسته د پخوا په شان سمدستي بندیخانې ته ولاړئ، د خپلې کورنۍ د لیدو لپاره کور ته هم نه ولاړئ.

محمد بن سیرین- رحمه الله تعالی- چې کله اویا (۷۰) کلنۍ ته ورسېدئ نو مرګ په داسې وخت کې ورته راغی چې د دنیا له کارونو څخه یې اوږې سپکې وې او ډېره توښه یې د آخرت لپاره درلوده.

حفصة بنت راشد چې یوه تقواداره ښځه وه، داسې وایي:

مروان المحملي زموږ همسایه و، چې همېشه به یې عبادت کاوه او ډېر زیار به یې د الله تعالی په اطاعت کې کوئ... کله چې مړ سو، موږ ده په مرګ ډېر سخت وردردېدو، نو مې په خوب ولید او ورته و مې ویل:

اې د عبدالله پلاره! الله تعالی څه درسره وکړل؟

هغه راته وویل:

جنت ته یې داخل کړم.

ما ورته وویل:

بیا څه پېښ سول؟

ده وویل:

وروسته یې اصحاب الیمین ته پورته کړم.

ما ورته وویل:

نور څه پېښ سول؟

ده وویل:

بیا یې مقربینو ته پورته کړم.

ما ورته وویل:

هلته دې څوک ولیدل؟

ده وویل:

حسن بصري او محمد بن سیرین- رحمهما الله تعالی-.

**و من الله التوفیق**

### جرایم سایبری...

دستیابی و فاش کردن این اسرار، ضرر سیاسی، نظامی، مالی، تجاری میکند. این جرم امنیت ملی را با مخاطره مواجه میکند.سابوتاژ کمپیوتری : این جرم با جرم تخریب شباهت بسیاری دارد، هدف مجرم اخلال در نظام سیاسی و اقتصادی یک کشور و بالطبع اخلال در امر حکومت است. در واقع اصلاح، موقوف سازی، پاک کردن غیر مجاز داده ها یا عملیات کمپیوتر به منظور مختل ساختن عملکرد عادی سیستم سابوتاژ کمپیوتری گویند.جعل کمپیوتری: وارد کردن، تغییر، محو یا موقوف سازی داده های کمپیوتری یا برنامه های کمپیوتری به منظور و اهداف سیاسی و اقتصادی صورت میگیرد. جعل کمپیوتری جعل داده ها است. در جعل کمپیوتری عمل ارتکابی بر داده ها اثر میگذارد، با این تفاوت که داده، ماهیت اسناد عادی را ندارد.افترا و نشر اطلاعات از طریق پست الکترونیک: پست الکترونیک مرسوم ترین و گسترده ترین سرویس شبکه های کمپیوتری و بین المللی است، هر کاربر میتواند در شبکه های بینالمللی از طریق یک آدرس مشخص الکترونیک شناخته شود که با دسترسی به رمز آن میتوان به آسانی در آن تقلب کرد. این قابلیت پست الکترونیک میتواند ابزاری جالب برای نشر اطلاعات مجرمانه یا نشر اکاذیب و افترا به اشخاص باشد و احتمال کنترل اطلاعات برای تهیه کننده کاملاً مشکل است و در عمل به خاطر تعداد بسیار زیاد پست الکترونیک ارسالی، اتخاذ تدابیر کلی و گسترده امنیتی مشکل بوده و تنها برای بخش کوچکی از داده ها میسر میباشد.تطهیر نامشروع پول: بدست آوردن پول از طریق غیر قانونی یا پول کثیف، به نحوی که قانونی یا پاک به نظر برسد، از جرائم کلاسیک بوده که در محیط سایبر به کمک اینترنت، پست الکترونیک و شبکه های بینالمللی ارتباطی صورت میپذیرد، نحوهٔ ارتکاب بدین نحو است که باند های بزرگ نامشروع توسط پست الکترونیک یا اینترنت بدون هیچ گونه اثر و نشانی درخواست ارسال مبالغی پول به حساب شخص معینی را مینمایند و در تقاضای خود نحوهٔ ارسال پول و دستمزد و مدت استرداد را بیان و در صورت قبول طرف نوع و نحوهٔ تنظیمات لازم را اعلام میدارند و اصولاً در زمان استرداد پول یک عنوان مشروع در تجارت الکترونیک را با منشأ تجاری انتخاب و با هدف خود هماهنگ مینمایند لازم است ذکر شود غالب این درخواستها از افراد کشور هایی که از لحاظ تکنالوژی اطلاعاتی و ارتباطی و هماهنگی پولیس در سطح بینالمللی در درجهٔ پائین تری قرار دارند انتخاب میشود.قاچاق موادمخدر: با توجه به گسترش ارتباطات شبکهای و در محیط سایبر و دسترسی آسان افراد به هم از طریق پست الکترونیک و اینترنت هرگونه قاچاق مواد مخدر اعم از خرید، فروش، پخش، توزیع یافتن واسطه ها و مصرف کنندگان از طریق شبکه های کمپیوتری انجام میشود. جرائم ناظر به کاپی رایت و برنامه ها: هرگونه تکثیر، ارسال، انتقال، در اختیار عامه گذاشتن، پخش گسترده، توزیع، فروش و استفادهٔ غیر مجاز از برنامه های کمپیوتری را سرقت نرم افزار گویند.جرائم در تجارت الکترونیک: شامل کلاه برداری در تجارت، تعریف کلی و کلاسیک کلاه برداری عبارتست از «تحصیل مال دیگری با استفاده از وسایل متقلبانه» شخصی در نقطهای نا معلوم با وارد شدن به شبکهٔ بینالمللی (مثل اینترنت) و معرفی خود به عنوان تاجر و صاحب یک شرکت معتبر در یک سایت تجاری و ارائهٔ «نهادی مشابه ادارهٔ ثبت اسناد که این نهاد عهده دار ثبت داده های تجاری و تجار است تا بدین ترتیب تاجر مجوز ورود به عرصهٔ تبادلات الکترونیک را کسب نماید «و همچنین نهادی که در تجارت الکترونیک به معنای زیر ساخت کلید عمومی است. اساس تجارت الکترونیک و از محور های عمده و مهم آن داشتن این نهاد برای تجار میباشد «(تماماً غیر واقع و کذب)، اظهار میدارد که کالایی را با قیمت معین، نوع و تعداد مشخص در اختیار داشته و قابل عرضه به مشتریان میباشد از طرفی خریدارانی که در فضای شبکه ها مشغول تجارت الکترونیک (خرید و فروش) میباشند پس از دریافت پیام، نسبت به برقراری ارتباط شبکهای (که غالباً به صورت پست الکترونیک یا ارسال درخواست از طریق شبکه میباشد قبول (خرید) خود را اعلام و مقداری از کالای مورد نظر را درخواست میکنند. شخص فروشنده پس از جلب اعتماد طرف مقابل، نسبت به اعلام شمارهٔ حساب یا شمارهٔ کارت اعتباری خود برای دریافت وجه اقدام مینماید. خریدار نیز پس از پرداخت وجه (غالباً به صورت پرداختهای الکترونیکی) منتظر دریافت کالا میباشد در صورتیکه شخص فروشنده قبلاً با عملیاتهای متقلبانه و نفوذ توانسته بوده که نهادهای نامبرده را به صورت غیر واقع برای خود اختیار نماید و بدین وسیله مبلغی را من غیرحق کسب نماید. جرم آینده، تروریسم سایبر: والتر لاکور "Walter Lacor" یک متخصص تروریسم در مرکز مطالعات استراتژیک و بینالمللی اشاره میکند که یک مقام رسمی (CIA) ادعا کرده است که میتواند «با یک میلیارد دلار و ۲۰ هکر قابل، ایالت متحده را فلج کند.

**پولیس سایبر:**

بعضی از افسران پولیس از دههٔ ۱۹۷۰ در زمینهٔ جرائم سایبر آموزش دیده اند و تخصص پیدا کرده اند. جرائم سایبر ممکن است در هر جا اتفاق بیفتد و غالباً قابل رد یابی نیستند. بیشتر ادارات پولیس محلی فاقد پرسونل ماهر یا بودجه لازم برای مبارزه با جرائم سایبر هستند به خصوص به این دلیل که این پرونده ها ممکن است در آن واحد به حوزههای قضایی متعددی مربوط شوند، بنا بر این چه کسی مسئول مبارزه با جرائم سایبر خواهد بود؟ علاوه بر آنچه پولیس کمپیوتری نامیده میشود، شهر وندانی نیز وجود دارند که به صورت شخصی به جلوگیری از جرائم سایبر و شناسایی مجرمان کمک میکند. هنوز هم مباحثات زیادی در مورد روشهای مورد استفاده توسط مقامات رسمی، در اجرای قوانین مبارزه با جرائم سایبر وجود دارد. پولیس تا چه حد مجاز است که در تحت پیگرد قرار دادن و دستگیری مجرمان سایبر به ویژه هکر ها پیش رود؟ پولیس تا چه حد اجازه دارد که به حریم خصوصیالکترونیک شهروندان پا بگذارد؟ چگونه باید میان حقوق افراد و نیاز مقامات دولتی برای تحقیقات و تشکیل پرونده تعادل برقرار کرد؟ ولی با این وجود پولیس توانسته بسیاری از هکر های بدخواه را شناسایی کند و در یافتن مجرمان سایبر مؤفق باشد.

امنیت سایبر:

با وجود تبادل عظیم اطلاعات حیاتی و یا خصوصی از طریق اینترنت باید دید اینترنت تا چه حد برای ارسال داده های حساس، مطمئن است، و امنیت شبکه ها وقتی داده ها در آن جریان پیدا میکنند چگونه است؟ چرا که با وجود جریان داده ها روی اینترنت بسیار طبیعی است که فکر کنیم گوش دادن و گرفتن اطلاعات حساس موجود میتواند کار ساده ای باشد. اما رمز گذاری روی داده ها (غیر قابل فهم یا غیر قابل خواندن داده ها) لایه سوکت های امن به عنوان استاندارد حفاظتی یا ایمنی و رمز عبور معتبر، جدا سازی داده ها روی کمپیوتر های متعدد و تفکیک پایگاه داده ها (جدا نگه داشتن اطلاعات مشتریان) روش های پیشرفته در ایمنی داده ها میباشند، که میتوانند از دستیابی هکر ها به داده ها جلوگیری کنند.

### بررسی عوامل فقر ...

توسعه یافته، برای تبدیل این منابع استفاده می شود. در این موارد، کشورهای ثروت مند نقش دلالان ماهر را بازی می کنند، واسطه هایی که در چهره دایه-های دل سوزتر از ما در ثروت های هنگفت کشورهای عقب مانده را می ربایند. سرانجام با فروش فرآوردهای صنعتی به مردم این سرزمین ها، اندک پولی را، که در مقابل منابع و کار فراوان به آنها داده اند، از آنان باز می¬ستانند. استفاده نادرست از منابع در کشورهای عقب مانده آن چه گفته شد، محدود نمی شود. مصرف گرایی و بدتر از آن تهیه و به کار گیری مواد مخربی که اغلب بسیار گران است، از موارد دیگر اتلاف منابع شمرده می شود؛ و کشورهای استعمارگر در این جهت نقش اساسی دارند. بر اساس آموزش های دینی، مسلمانان در حفظ اموال عمومی و استفاده درست از آن مسؤول اند و باید از اسراف و زیاده روی و تدبیر نادرست در این اموال بپرهیزید.۲-نبود تجارت آزاد: در این رابطه میتوان، به طور مشخص از موجودیت سطح بلند تعرفه¬های حمایوی گمرکی برای محصولات زراعتی در کشورهای پیشرفته میتوان نام برد، که این وجوه عموما برای دهاقین بزرگ و حمایه از زراعت تجارتی تخصیص می یابد. و این کار به ذات خود یک حمایه بزرگ از محصولات زراعتی به شمار میرود. این چنین تدابیر خود باعث بلند رفتن قیمتها برای مستهلکین در کشورهای پیشرفته گردیده، رقابت و مؤثریت را تقلیل بخشیده، صادرات کشورهای در حال توسعه در آن دارای مزیت نسبی دارند به سقوط مواجه ساخته و پایمال می نماید.

**نتیجه¬ گیری:**

در اخیر به این نتیجه میرسیم که فقر یکی از معضلات اساسی در هر جامعه میباشد دانشمندان در رابطه به عوامل فقر نظریات مختلف را ارایه کرده است. که از آن جمله پاول مارک هنری در کتاب فقر، پیشرفت و توسعه در مورد علل پیدایش فقر چنین می گوید« در بسیاری از موارد، بروز سوانح طبیعی( از قبیل خشک سالی، سیل و زلزله )، حوادث اجتماعی ( از قبیل جنگ، هرج و مرج سیاسی و از هم گسیخته گی نظام اقتصادی) و یا فراز و نشیب های اقتصادی( رکود اقتصادی، جابجایی فعالیت های اشتغال زا و تقلیل تقاضا برای مهارت های مختلف ) ممکن است، حتی امکان اشتغال و تأمین معاش افراد جوان و تندرست را تقلیل دهد و آن ها را در معرض فقر قرار دهد».بعضا هم خود افراد منجر به فقر خودشان می شوند. به این ترتیب که امکانات لازم برای شخص در زندگی وجود داشته و زمینه پیشرفت برایش فراهم بوده، ولی خود فرد سعی و کوشش نکرده است. بیش تر روانشناسان این علت را تائید می¬کنند و خود فرد را هم مقصر می دانند؛ اما جامعه شناسان معمولا باور ندارند که فقر اساسا نتیجه رفتار های اجتماعی افراد است، جامعه شناسان در تلاش هستند تا ثابت کنند که رفتارها و امکانات شخصی، نیروهای اجتماعی کلی وجود دارند که مسؤول وجود فقر به عنوان یک پدیده اجتماعی اند.

**منابع:**

**الف - القران کریم**

**۱-ابوالفتحی قمی ، ابولفضل. (۱۳۷۱). در آمدی بر شاخصهای نابرابری درآمد برفقر. تهران: مرکز آمار ایران.**

**۲-ارضروم چیلر، نسرین. (۱۳۸٤). ابعاد گوناگون فقر در ایران. مجموعه مقالات پژوهشی اقتصادی، اداره بررسی ها و سیاست های اقتصادی.**

**۳- پوهندوی جبارخیل، محمد اسلم، جامعه شناسی جنایی، انتشارات مرکز طبع و نشر پولیس، سال ۱۳۹۹**

### د ملابرادر اخوند ملي...

عام خلک بیا د جومات په جوړېدو خوښي ځرګندوي او وايي: له دې وړاندې یې په دغه ولایت کې دومره لوي او له هر ډول آسانتیاوو برخمن جومات نه درلود.د ارزګان اوسېدونکي علي جان وايي: (( پخوا په ټول ولایت کې داسې ځای نه و، چې دومره زیات لمونځ کوونکي په کې لمونځ وکړي، زما غوښتنه دا ده، چې دغه جومات ته باید ځانګړې پاملرنه وشي.))دا په داسې حال کې ده چې په دغه ولایت کې لاهم د ګڼ شمېر رغنیزو پرژو کارونه ،چې په تېر حکومت کې ترسره کېدل، نیمګړي پاتي دي چې خلک یې له مسئولینو څخه د بیا پیلېدو غوښتنه کوي.

### برگزاری نمایشگاه ...

کادرهای علمی موسسه تحصیلات عالی فراه ضمن تشویق جوانان به فراگیری مطالعه ی کتاب، از اولیای دانش آموزان این ولایت خواست تا به جای خریدن گوشی های مدرن، برای فرزندان شان کتاب بخرند.در همین حال دانشجویان ولایت فراه نیز ضمن استقبال از برگزاری این نمایشگاه کتاب، از مسئولین خواستند تا در راستای تشویق جوانان به مطالعه و کتابخوانی تلاش بیشتر نموده و نمایشگاه های بیشتری را برگزار نمایند.گفته میشود که کتابخانه ریاست اطلاعات و فرهنگ فراه با داشتن ۱۰ هزار جلد کتاب، از غنی ترین کتابخانههای این ولایت بشمار میرود و دو شعبه دیگر آن نیز در بخشهایی از شهر فراه برای جوانان و علاقمندان کتاب در این ولایت فعالیت دارند

### د ټاپي پروژې په ...

قطعه هم جوړه کړې ده.د یادې پروژې د اقتصادي ارزښت په اړه د اقتصاد وزارت ویاند عبدالرحمن حبیب وايي: ټاپي پروژه د افغانستان لپاره حیاتي او اقتصادي پروژه ده، چې پلي کېدل به یې نه یوازې د اقتصادي پراختیا سبب شي، بلکې د سیمې په کچه به د سیاسي تعاملاتو او اقتصادي همکاریو د لا ښو کېدو لپاره ګټور تمام شي. (( د ټاپي پروژې په تطبیق سره به په کور دننه د اړتیا وړ ګاز په ارزانه بیه له ترکمنستان څخه ترلاسه شي او په هیود کې به د ګاز د لېږد او د ګازو کانونو د استخراج لپاره هم زمینه برابره کړي او شاوخوا لس زره کسانو ته به کاري فرصتونه هم رامنځته کړي.))د اقتصادي رو شنونکي احسان الله احسان هم د یادې پروژې پیلېدل د افغانستان لپاره ګټور ګڼي او زیاتوي چې افغانستان کولی شي له دغې پروژې څخه په کال کې صفر اعشاریه شپږ میلیارده متره مکعب په اندازه ګاز تر لاسه کړي او شاوخوا ۶۰۰ شپږ سوه میلیونه ډالر د ټرانزیت په برخه کې حق العبور هم اخیستلي شي. (( د دې پروژې په پلي کېدو سره افغانستان د سیمهییز اتصال په برخه کې خپل رول نور هم پیاوړي او د ټولو باور لاسته راوړلي شي.))د اقتصادي چاور بل شنونکي عبدالوارث امیري هم یاده پروژه د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره مهمه بولي او زیاتوي ،چې په تطبیق سره به یې افغان حکومت هر کال میلیونونه ډالره لاسته راوړي. (( دا پروژه به په سیمهییزه او نړیواله کچه افغانستان ته د غوره اقتصادي پیغامونو په تر لاسه کولو کې هم مهم رول ولري او په افغانستان کې به پانګوال هم ډاډ تر لاسه کړي. د دې تر څنګ به دا چاره د سوداګرۍ د ډېرېدو سبب شي.))د کانونو او پټرولیم وزارت تازه په دې اړه څه نه دي ویلي ، خو له وړاندې یې ویلي وو، چې په ټاپي پروژه کې امنیتي، تخنیکي او حقوقي مسایل حل شوي دي. ټاپي پروژه په ۲۰۱۶ میلادي کال کې پرانیستل شوه او کارونه یې د ترکمنستان په خاوره کې شاوخوا شپږ کاله وړاندې پای ته رسېدلي.یاده پروژه له ترکمنستان څخه پیل او د افغانستان له خاورې هند به او پاکستان ته د ترکمنستان ګاز ولېږدوي.

### د قطر او امریکا...

پلاوي افغانستان ته راغلی و او په کندهار کې یې له رئیس الوزراء ملا محمد حسن اخوند او نورو چارواکو سره وکتل.په ترسره شوې کتنه کې د قطر هیواد له خوا له افغانستان سره د اړیکو پر پیاوړتیا د ټینګار تر څنګ د اعتماد لا ډېروالي، په تعلیمي، روغتیایي او اقتصادي برخو کې د همکاریو ژمنه شوې وه. اسلامي امارت د قطر هیواد حکومت هڅولی ،چې د افغانستان او نړیوالې ټولنې تر منځ د باور په پیاوړې کولو کې لا ډېر رول ولري.

### د رحمن مېنې د (E) ...

د یادې سیمې اصلي مالکان خپله د سیمې اوسېدونکي وبلل او له دوی یې وغوښتل چې، د زرغونو سیمو ساتنې ته پام وکړي.ورته مهال د کابل ښاروالۍ د پروګرامونو او پروژو د تنظیم رئیس انجنیر میرالرحمن ناصري او د زرغونتیا ریاست مرستیال سراج الدین پټان ژمنه وکړه، چې ښاریانو ته د ښکلا او زرغونتیا رامنځته کولو په موخه به، د ۶۹۱۵ متره مربع په مساحت سیمه د ۵ میلیونه ۱۸۹ زره او ۴۶۹ افغانیو په لګښت، د ۸ میاشتو په موده کې د انګر، پلو لارو، اودس ځای، لوبغالي، څوکیو، نیالګیو کینولو او چمن کرلو په ګډون، په یوه ښایسته او زرغونه سیمه بدله شي.د یادونې وړ ده چې، یادې سیمې ته څېرمه، مخکې د سیمې د اوسېدونکو له لوري یو جومات جوړ شوی دي، چې د زرغونې سیمې په جوړېدو سره به د یاد جومات ښکلا نوره هم ډېره شي .

### په خوست کې معلولینو ...

د خوست د عامې روغتیا مرستیال وویل: د اورتوپیډي او فیزیوتراپۍ مرکز د لا ښه والي لپاره هڅې رواني دي چې، ډېر ژر به د جنوب ختیځ زون په کچه د ناروغانو لپاره معیاري او غوره خدمتونه وړاندې شي:((هغه ناروغۍ، چې داخل د خوست کې وي، یا اړوندو نورو ولایتونو کې وي او تداوي یې نه کېږي، اطمینان ورکوم ،چې دوی راتللي شي د خوست فیزیوتراپي او اورتوپیډي مرکز ته. انشاءالله د دوی درملنه کېږي.))بل پلو معلولیت لرونکي وګړي خوښي ځرګندوي، چې دغه ویلچر ورکړل شول او دوی وايي، له دې وروسته به د تګ راتګ پرمهال د دوی ستونزې کمې شي.دوه تنه معلول وګړي ګل واحد او نورجان وايي: د معلولینو لپاره دې بنسټیز کارونه ترسره شي، څو دوی هم په ټولنه کې د عادي وګړو په څېر ژوند وکړي: ((د معلول لپاره خو دا پښې او لاسونه دي، موږ ته دا ویلچرې راکړل شوې. معلولین پیسې نه لري ،چې وا یې خلي، نو موږ غواړو ،چې د معلولینو لپاره نور داسې بنسټیز کارونه وشي او موږ په خپلو پښو ودرېږو.)) (( د دغه ریاست له منسوبینو ډېره شکریه ادا کوو، چې موږ سره یې په دا سخت حالت کې کومک وکړ. موږ به یوه اندازه اسوده شو.)) د یادونې وړ ده، چې په خوست کې یو شمېر معلولین پر اړوندو ادارو له دې امله نیوکې کوي، چې دوی ته یې ټاکلي امتیازات په میاشتو میاشتو ځنډېږي ،چې له امله یې دوی له ګڼو ستونزو سره مخ وي.

# Hewad Daily

دوشنبه د شوال المکرم ۲۵ مه ۱٤٤٤ ق کال د ۱٤۰۲ ل کال د غویي ۲۵ مه د 2023 م کال دمې ۱۵ مه



د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۰۲۰ - ۲۵۲٦۳۱۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایت www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰٦۹


## پر کانونو د عربو او چینایي پانګوالو د پانګونې لېوالتیا وستایل شوه

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور پرون له هغو عربو او چینایي پانګوالو سره وکتل، چې غواړي د افغانستان پر کانونو پانګونه وکړي.د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په دغې کتنه کې د افغانستان په کانونو کې د پانګونې لپاره د عربو او چینایي پانګوالو د لېوالتیا هرکلی وکړ.نوموړي همدارنګه وویل: د هغو بهرنیو پانګوالو لپاره، چې غواړي د هیواد د کانونو په برخه



کې پانګونه وکړي، د کانونو او پټرولیم وزارت د بهرنیو پانګوالو د هڅونې او جذب په برخه کې قانوني همکاریو او د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو ته چمتو دی.د یادونې وړ ده، چې د کانونو او پټرولیم وزارت له دې وړاندې هم تولو ملي او نړیوالو پانګوالو ته د افغانستان پر کانونو د پانګونې بلنه او په دې برخه کې یې د لازمو اسانتیاوو د برابرولو او هر راز همکاریو ډاډ ورکړی و.

## د ټاپي پروژې په اړه په اسلام آباد کې غونډه جوړېږي

ټاکل شوې چې نن (دوشنبه) او سبا (سه شنبه) د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګاز پایپ‌لاین یا ټاپي پروژې پر سر د پاکستان په پایتخت اسلام آباد کې ناسته وشي.د پاکستان ((بزنس رکارډر)) ورځپاڼې د باخبره سرچینو په حواله ویلي، چې په دې غونډه کې به د ټاپي پروژې پر بېلابېلو اړخونو خبرې وشي.یاده ورځپاڼه وایي: د دې پروژې عاید به د افغانستان د کلنۍ بودجې له ۸۰ تر ۸۵ سلنې برخه پوره کړي، څکه یې د امنیت ډاډمنول افغانانو ته حیاتي دی.اسلامي امارت د افغانستان په خاوره کې د دې پروژې د امنیت




ساتلو لپاره ځانګړې قطعه هم جوړه کړې ده.د یادې ..۵مخ

نیوز ویک :

## په منځني ختیځ کې د امریکا نفوذ مخ په کمېدو دی

نیوز ویک په خپل تازه راپور کې لیکلي ، چې په منځني ختیځ کې امریکا په یووېشتمې پېړۍ کې بې شمېره وسائیل وقف کړل، خو اوس په نړیوال نظم کې یو ډېر واضح بدلون را روان دی، دوی زیاتوي ،چې په مارچ کې چین د ایران او سعودي عرب تر منځ د امنیت د ټرون لپاره همکاري وکړه چې په دې اړه امریکا له ډېرې مودې د درېیمګړي رول درلود او دا وخت واشنګټن له تهران سره هیڅ ډول ډیپلوماتیکي اړیکي نه



لري او له ریاض سره یې اړیکې ترینګلې شوي او بې خونده شوي دي، دوی د امریکا د یوه تجربه کار ډیپلومات کارچاس فریمین له قوله لیکي او هغه وایي، چې امریکا د شخړو په جوړولو، اخطارونو، ډارولو او بندیزونو څخه کار اخلي، موږ سمندري کښتۍ لېږو او بمباروونه کوو، خو موږ هیڅ وخت د یو چا د قانع کولو هنر پر کار نه اچوو، یاد امریکایي ډیپلومات زیاتوي چې د واشنګټن د « ډیپلوماتیک عظمت دور « ډېر پخوا ختم شوی دی او د امریکې هغه دور چې موږ به رعب او دبدبه اچوله ډېره پخوا ختمه شوې ده.

## د قطر او امریکا د بهرنیو چارو وزیران د افغانستان په اړه غږېدلي

د قطر د بهرنیو چارو وزیر له خپل امریکایي سیال سره د افغانستان په اړه خبرې کړي.





د یاد هیواد د بهرنیو چارو له وزارت څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې محمد ((بن سلمان ال ثاني)) له انتوني بلېنکن سره د قطر او امریکا پر دوه اړخیزو اړیکو او دغه راز په افغانستان کې د وروستیو پرمختګونو په اړه خبرې کړي.د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم په اعلامیه کې ویلي، چې په دغو تلیفوني خبرو کې بلېنکن له افغانستان سره د قطر پر مرستو ټینګار کړی. دا خبرې داسې مهال ترسره کېږي ،چې د جمعې په ورځ د یاد هیواد د لومړي وزیر محمد بن عبدالرحمن آل ثاني په مشرۍ ...۵مخ

## د رحمن مېنې د (E) برخې د زرغونې سیمې جوړولو چارې پیل شوې

د اتمې ناحیې اړوند د رحمن مېنې د (E) برخې د زرغونې سیمې جوړولو چارې، د کابل ښاروالۍ د ښاري خدمتونو او چاپېریال ساتنې د مرستیال مولوي محمد خالد سجستاني له لورې په داسې حال کې، چې د سیمې مشرانو او اوسېدونکو یې ملتیا کوله، د پټۍ په پرېکولو سره پیل شوې.په یادو مراسمو کې د ښاري خدمتونو او چاپېریال ساتنې مرستیال له خلکو وغوښتل، چې د ۸مې ناحیې په اړوندو سیمو کې د نویو




پیل شویو او پیل کېدونکو پروژو په پلي کېدو کې مرسته وکړي. نوموړي د دې پروژې له پیل کېدو خوښي وښوده او ویې ویل چې، مخکې له دې سیمې څخه یو شمېر فرصت غوښتونکو او سرغړوونکو نا سمه ګټه پورته کوله، چې له بېرته راګرځولو وروسته یې د زرغونتیا په اړه اقدام وشو.

سجستاني ...۵مخ

## فلسطین او اسرائیلو د مصر په منځګړیتوب پر اوربند موافقه و کړه

د اسراییلي اشغالګرو ځواکونو او د فلسطین د اسلامي جهاد ډلې ترمنځ د تاوتریخوالي له زیاتېدو وروسته د جګړې ښکېلو غاړو د مصر په منځګړیتوب پر اوربند موافقه کړې ده.له پنځو ورځو راهیسې دا سخته جګړه له ۲۰۲۱ م کال راهیسې د اسراییلي اشغالګرو او فلسطینیانو له منځ تر ټولو سخته جګړه بلل کېږي، د دغو دواړو هېوادونو چارواکو د جګړې د ښکېلو غاړو ترمنځ رسمي اوربند تایید کړی دی.د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ نښتې وروسته له هغې پیل شوې چې د یوه فلسطیني بندي له شهید کېدو وروسته له غزې څخه پر اسراییلو سلګونه توغندي وتوغول شول، چې وروسته اسراییلي پوځ د اسلامي جهاد پر څو مرکزونو او نورو پوستو بریدونه وکړل او د دغې



ډلې څو جګپوړي قوماندانان یې په شهادت ورسول.له بلې خوا د فلسطین د اسلامي جهاد ویاند «داوود شهاب» هم د اسراییلو له خوا د اوربند اعلان تایید کړ او ټینګار یې وکړ چې تر هغه وخته پورې چې نیواکګر یې ومني موږ به یې هم مراعات کړو.

## په بغلان کې دوې لرغونې آبدې کشف شوې

د بغلان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي، چې د فرهنګ او ګرځندوی آمریت له لوري د دغه ولایت په مرکزي بغلان ولسوالۍ کې یو جومات او یوه غونډۍ چې اوږده تاریخي مخینه لري کشف او سروې شول.

د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګ او ګرځندوی آمر مولوي عزت الله میرحقاني، چې د یوه پلاوي په ملتیایې د مرکزي بغلان ولسوالۍ ته سفر کړي و، د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د مرکزي بغلان ولسوالۍ په طاهریانو سیمه کې یې د غره لاندې یو جومات او د همدې ولسوالۍ د دولسم سرک سیمه کې یې د نیک محمد غونډۍ په نامه یوه غونډۍ کشف او سروې کړې ده.

نوموړي زیاته کړه یاده سمځه چې د جومات په ډول ده له اسلامي دورې د مخه د د تاریخ ښودنه کوي او د غونډۍ تاریخي مخینه مالومه نه ده.

د چاپېریال ساتنې اداره:

## تېر کال مو د دوه زره ځارویو او مرغانو د ښکار مخه نیولې

د کابل د ژوبڼ رئیس وایي، اوس په کابل ژوبڼ کې ۴۰ ډوله مرغان ساتل کېږي.نوموړي د مهاجرو مرغانو په نړیوالې ورځې له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، مهاجر مرغان لا هم د افغانستان له فضاء تېرېږي.د کابل د ژوبڼ د رئیس عزیز ګل ثاقب په وینا: دغه مرغان تر ډېره بریده د قرغې بند، امو، هلمند او کونړ سیندونو پر غاړو او د میدان وردګو په چک ولسوالۍ کې کېني.ښاغلي ثاقب په‌دې اړه وایي: (( موږ له خپلو خلکو غوښتنه کوو ،چې دغه مرغان لکه څنګه ،چې په مېلمه پالنه کې مشهور یوو، له دوی مېلمه پالنه وکړي.))ورته مهال د ملګرو ملتونو لوی منشي انتونیو ګوتېرېش وایي: د مرغانو او د هغوی د اوسېدو ځای ساتنه د ټولو دنده ده.نوموړي په یوه ټویټ کې لیکلي: (( مهاجر مرغان په زیاتېدونکې توګه د انساني فعالیتونو له ګواښ سره مخ دي. د هوا له ککړتیا نیولې د اوسېدو د ځای له لاسه ورکولو



او اقلیمي بدلونونو پورې. موږ ټول دنده لرو ،چې د مرغانو او د هغو د اوسېدو د ځای ساتنه وکړو.))بله‌خوا، د کابل یو شمېر اوسېدونکي له اسلامي امارته غواړي ،چې د نادرو مرغانو د قاچاق او ښکار مخه ونیسي.د چاپېریال ساتنې اداري د طبیعي میراثونو د ساتنې رئیس وایي: په تېر کال کې یې د شاوخوا دوه زره ځارویو او مرغانو د ښکار مخه نیولې ده.د چاپېریال ساتنې اداري د طبیعي میراثونو د ساتنې رئیس حامد ساپی وایي: (( په تېر کال کې موږ تقریباً د ۱۹۴۴ ډوله ځارویو ،چې په هغو کې نږدې ۴۹ الوتونکي مرغان دي، د ښکار مخه نیولې ده.))

## عمران خان په ټول پاکستان کې د لاریونونو غوښتنه وکړه

د پاکستان مخکیني صدراعظم عمران خان له خوشې کېدو یوه ورځ وروسته پر خپلو پلویانو غږ کړی ،چې په ټول هیواد کې لاریونونه وکړي. نوموړي په یو ویډیویي پیغام کې



خپلو پلویانو ته په خطاب کې ویلي، (( خپلواکي په آسانۍ نه راځي، تاسو یې باید واخلئ او باید سرښندنې ورکړئ)) د تحریک انصاف ګوند مشر له خپلو پلویانو څخه غوښتي، چې په کلیو او کوڅو کې لاریونونه وکړي او تر څنګ یې دا هم ویلي، چې په سمدستي توګه به د ټاکنو لپاره د چهارشنبه په ورځ خپله مبارزه بېرته پیل کړي. عمران خان په خپلو خبرو کې د پخوا په څېر د خپلې نیول کېدو ملامتي د پاکستان د پوځ پر لوی درستیز واچوله او زیاته یې کړه چې د همدې لوی درستیز د کړنو له کبله د پوځ نوم بد شوی.